

# د ســـرو زرو کربنې

راټولونه او ژباړه: انـــدیال ســـاپی

کال ۲۰۱۷م

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کـــتاب ځانگړني

***************************

د کتاب نوم: د ســرو زرو کــرښې
راټولونه او ژباړه : انـــديال ساپی
کمپوز : ژباړن
چاپ کال : ناچاپ
چاپ شمير: ۰۰
خپرندوی: ريـــــان ټولگټې اســـلامی کتـابتــون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ســــريــــزه

د ســـرو زرو كـــربښې هغه نقل شوې ټولګټې ويناوې، لنډې او تأثير ناكې كلمې دي چې په يوه كلكه رايه او سمه پرېكړه مشتملې دي، چې د تجربې، زيركتيا كارونو د پوهاوي او جريانه زېږدېدلې دي.

د پند، حكمت اوغوره ويناوې په غالبه توګه له عقلمند او پوهه انسان څخه صادرېږي چې تجربو زيرک كړى وي او د مېړانې نښه يې پرې لګولې وي.

حكمتونه او غوره ويناوې په بشري نفسونو غښتلى تأثير لري ، انسان فضيلت او غوره والي ته هڅوي او د هغه نښې ورته ښكاره كوي ، د هغې ترلاسه كولو ته يې رابولي او په خپلولو كې يې ورسره مرسته كوي.

دا ځكه چې غوره ويناوې د عقل زېږنده، د تجربې ثمره او د فكر نچوړ دى.

مونږ ته د صحابو، تابعينو، علماوو،دين د امامانو او مخكنيو پوهانو څخه ډېرې ټولګټي ويناوې او ګټور وصيتونه راپاتى دي چې د ټولنې په اصلاح، سمون، هوساينه، سرلوړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند د چارو په بریالیتوب کې له مونږ سره مرسته کوي، او راته د یو روښانه او روڼ راتلونکی په لور د مشال په څیر لار ښايي، چې د ټولو راټولول ناشونی کار دی خو مونږ هڅه کوو ترڅو پدې ټولګه کې ترې د خپل توان په اندزه ځینې نمونې ذکر کړو.

په پای کې د الله جل جلاله څخه سوال کوم چې دغه کوچنی عمل د لیکوال او لوستونکو د ثواب سبب وګرځوي.

انـــديال ســـــاپی

اسلامي پوهنتون مدینه منوره

۲۰۱۸/۳/۳۰م

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپلې پټې چارې مو اصلاح کړئ:**

امام ابن القیـم - رحمـه الله- وایې :

•څوک چې خپلې پټې کړنې سمې کړي، الله تعالی به یې ښکاره چارې سمې کړي.

•څوک چې د خپل ځان او خپل رب ترمنځ اصلاح وکړي الله جل جلاله به دده او خلکو ترمنځ اصلاح وکړي.

•څوک چې د اخرت لپاره عمل وکړي الله جل جلاله به یې ددنیا اړتیاوې پوره کړي.

**********

**ستره جفا:**

ابن حبان رحمه الله وایې:

" له دوستی وروسته دښمنی ستره جفا او تیروتنه ده، عقلمند ته یې کول ندې پکار، که چیرته وخت مو د هغی سپریدولو ته اړ کړي نو د سولې لپاره لار پریږدئ".

روضة العقلاء( ۱۰۲).

**********

**مسافر څوک دی؟**

ترکماني الحنفي رحمه الله وایې:« مسافری او ناشناوالی له کورنی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيواد څخه لريوالی او له يو ځای څخه بل ځای ته سفر کول ندې، بلکې مسافر هغه څوک دی چې په قران او سنت عمل کوي او داسې څوک نه مومی چې پدې لاره کې ورسره مرسته وکړي، د خلکو ترمنځ ناشنا وي خو الله جل جلاله او د هغه رسول ته نږدي وي».

اللمع في البدع والحواث (٥٨٤).

**********

**د جومات پابند اوسئ:**

سلمان فارسي أَبو الدَّرْداء ته وليكلِ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا:

ای وروره!

دجومات پابند اوسه، يقينا ما له رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّم څخه اوريدلی دی چې فرمايل يې: "جومات د هر تقواداره او پرهيزگاره کور دی".

بزارروايت کړی (٢٥٤٩)، وگوره " السلسة الصحيحة" للألباني (٧١٦).

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اخلاقو ارزښت:**

که په عبادت کې دی کمی هر څومره وي، خو په اخلاقو کې کمی مه کوه، شاید اخلاق دی لوړو جنتونو ته د ننوتلو کیلی شي.

**********

**بد ورور:**

ابن حبان رحمه الله وايې:

وروړنه د سختی او اړتیا په وخت پیژندل کیږي، ځکه په راحت کې خو ټول خلک دوستان وي، بدترین وروړنه هغه دی چې د تکلیف او ضرورت په وخت کې خپل ورور ذلیله او رسوا کوي. روضة العقلاء (۲۲۱).

**********

**کیسه:**

د والدینو سره نیکی او چلند هغه کیسه ده چې ته یې لیکونکې یې، او بچیان به دی له تا وروسته نورو ته نقلوي، نو د کیسی لیکل دی په سمه توګه وکړه.

***********

**د الفاظو سم انتخاب:**

که چیرته ووایې: چې نیمه ټولنه بده او ناکامه ده نو ټول په غوسه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو که ووايې: چې نيمه ټولنه بريالى ده نو ټول دى وياړي.
داوړه جملې يوه معنى لري،
خبرې دى په سمه توګه انتخاب کړه تر څو پيغام دى تر نورو ورسي.

**********

**درب او بنده ترمنځ يې اړيکه:**

د مسلمان لپاره دوه پردى دي:

- لومړى: دده او د رب ترمنځ.
- دوهمه: دده او دخلکو ترمنځ.

ځوک چې هغه پرده ماته کړى چې دده او د رب ترمنځ ده، الله جل جلاله به هغه پرده ليرى کړي چې دده او د خلکو ترمنځ ده.

**********

**د ليدو مخکى مو رب راضى کړئ:**

د مؤمن لپار رب شته چې ورسره مخامخ کيږي به، او کور دى چې په کې اوسيږى به، نو ده ته پکار دى چې خپل رب له ليدو مخکې راضى کړي، او خپل کور له ورتلو مخ کې ودان کړي.

*********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د وخت ضائع کول له مرگ ډیر زیان لري:**

د وخت ضایع گول له مرگ څخه زیات سخت دی، ځکه وخت ضائع کول دی د الله تعالی او د اخرت څخه جلا کوی او مرگ ددنیا او دنیا د خلکو جلا کوي.

*********

**ددنیا ارزښت:**

دنیا له پیل څخه تر پای د یوساعت په غم نه ارزی ، نو بیا د ټول عمر غم کول څنگه دی

*********

**خوښ او ناخوښه:**

د نن ورځی خوښ شیان سبا ته ناخوښه او تکلیف وي، او د نن ورځی ناخوښه شیان سبا ته راحت او خوښ وي.

*********

**ددنیا ستره بریا:**

په دنیا کې ستره بریا دا ده چې خپل ځان هر وخت په هغه څه مشغول کړئ چې دهغه لپاره مناسب او په اخرت کې ورته گټه لري.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عقلمندی:**

څرنګه عقلمند دی هغه څوک چې جنت د یو ساعت په شهوت پلوري

**********

**د الله جلا جلاله عظمت:**

د چا په زړه کې چې د الله تعالی لویې او عظمت وی ترڅو د هغه نافرمانی ونه کړي، الله جل جلاله به یې د خلکو په زړنوکې عزتمند کړي تر څو یې ذلیله نه کړي.

**********

**دری شیان د اخرت د ثواب پرته په دنیا کې هم ګټه لري:**

- حج کول بیوزلی او غربت ختموي.
- صدقه کول د مصیبت مخه نیسي.
- نیکی او ښیګړه کول عمر زیتوي.

**********

**دری شیان بیرته نه راستنیږي:**

- خبره چې له خولی ووځي.
- غشی چې له لیندۍ ووځي.
- او وخت چې تیر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**********

**ځلور شیان مو ځلورو ته رسوي:**

- چوپتیا مو سلامتیا ته رسوي.
- نیکي او ښیګړه مو عزت ته رسوي.
- سخا مو سرلوړۍ ته رسوي.
- شکر ویستل مو د نعمتونو زیاتوالي  ته رسوي.

**********

**دقدرت شکرانه:**

کله چې په دښمن برلاسی شوئ، نو هغه ته ښښنه د خپل برلاسیتوت شکرانه وګرځوه.

**********

**ریښتنی ویاړ:**

دا ویاړ ندی چې ځواکمن راوپرځوي، بلکي ویاړ دا دې چې له کمزوري سره انصاف وکړئ.

*********

**د عقل ارزښت:**

هر څه چې ډیر شي ارزښت کموي، بې له عقله چې څومره ډیریږي هغومره  یې ارزښت لوړیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان خبرې هغه د عقل د لوړوالی استازیتوب کوي.

*********

**د نفس درملنه:**

د خپل نفس او اروا درملنه وکړه، له ځان نه ټیټو خلکو ته وګوره ترڅو درد او لویي دی له منځه ولاړه شي.

*********

**مشکلات مو باید اړیکو دپریکون لامل نشی:**

کله چې مو نوکان لویږی باید نوکان پریکړو نه خپلی ګوتی، کله چې مو مشکلات زیاتیږی باید خپلی ستونزي او مشکلات ختم کړو نه خپلی اړیکې.

*********

دخلکو په اړه هغه څه مه وایه چې د ځان په اړه يې ويل بد ګنی.

**********

**د مینی لوړه بیلګه:**

چا سره چې ستا د اخرت غم نوی نو ستا غم ورسره هم نشته

(( إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحۡمٰنِ ))[سُورَةُ مَريَم : ٤٥]

زه ویریږم چي ته به د الله جل جلاله په عذاب اخته شې.

ریښتنی مینه دا ده چې تا سره د هغه چا په الهی عذاب د اخته کیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويره وى چې ته ورسره مينه لري.

**********

**گناهونه پريښودل د ذهنى پياوړتيا لامل گرځى:**

له إمام مالك څخه وپوښتل شو حافظى د پياوړتيا لپاره څه شى گټور دى؟!

هغه ځواب ورکړ: كه كوم شى ورته گټه رسوى نو هغه دگناهونو پريښودل دى.

الجامع للخطيب البغدادى (285/2).

**********

**لوڅوالى:**

ډير هغه شيان چې الله جل جلاله په دنيا كې حرام كړى،

په اخرت كې يې روا گرځولى،

لكه شراب او همداسى نور ...

پرته له لوڅوالى او بربنډتوب څخه چې الله تعالى په دنيا او اخرت دواړو كې حرام كړى،

بلكى زياته پرده كول د الهى نعمتونوڅخه دى،

الله جلاله فرمايي:

((إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته خو تا ته دا هوسايني شته چي نه وږی او نه لوڅ اوسيږې،
د بچيانو او فاميل غړو ته مو د جامو غوره انتخاب وکړئ، دتنگو
او لوڅو کاليو ليری اوسئ،
ځکه فاميل مو ستاسی رعيت دی او له تاسی څخه به دالله جل
جلاله په وړاندې دخپل رعيت پوښتنه کولای شی.
*********

**ريا څخه د ځان ژغورولو په موخه خپلی نيکې پټول:**

أبي حازم المديني ويلې دی:
خپلی نيکې داسی پټی کړه لکه څرنگه چې خپل گناهونه پټوي.
سير اعلام النبلاء ( ٦/١٠٠).
*********

**ښه سوچ ورته وکړه:**

خوښه دی چې هر چيری تښتی خو
((إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الرُّجْعَىٰٓ)).
هرو مرو همدا ستا د رب په لوري ورگرځېدل دي.
خوښه ده چې هر عمل کوی خو ستا عمل نامه
((لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحْصَىٰهَا )).
هيڅ وړوکی، غټ حرکت داسي ندی پاته چي پده کښي درج شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي.

نن درخخه منل كيږى

((مِثْقَالَ ذَرَّةٍ))

ذره قدري نېكي.

خو سبا ته درخخه نه منل كيږى

((مِّلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا)).

دا ټوله ځمكه له سرو زرو ډكه جريمه هم وركړي،

الله تعالى فرمايي:

((أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ)).

ايا تاسي انګېرلې وه چي موږ بابېزه پيدا كړي ياست او زموږ لوري ته ستاسي هيڅكله راګرځېدل نشته؟"

*********

**ريښتني مړ څوک دی:**

إمام ابن الجوزي -رحمه الله- ويلي دی :

" هغه څوک مړ نه دی چي له بدن څخه يې روح جلا شی ،

بلكى مړ هغه څوک دی چي په ځان د الله تعالى حقوق نه پيژنى !".

التذكرة( ص١٨ ).

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له خپلې ګناه ويريدل د ايمان نښه ده!**

ابن مسعود -رضي الله عنه- وايې:

"مؤمن به خپله ګناه داسې وينې، لکه چې دا ديوى غتې ګټې(تږې)لاندې وى او ويريږى چې هغه پرى را ونه غورځيږى، او کافر به خپله ګناه داسې وينې لکه مچ چې يې د پوزى تر څنګ تير شى"

**********

**تير وخت:**

ابن القيم رحمه الله- ويلې دى:

" د تير وخت په پښيمانى ځان مشغولول د حاضر وخت بربادول دى ".

مدارج السالکين (٣ / ٥٠ ).

**********

**دردونکي حقيقت:**

يو وايې:

نيکه ته مې وويل: ولې خپلې پيسى په قران کې پټوئ؟

هغه وويل: زه پوهيږم چې تاسو يې نه خلاصوى.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دفکر وړ ده:**

په یوه لیری پرته سیمه کې می سل کلن بوډا ولید،

تري ومي پوښتل:چې په دومره بوډاتوب کې دی د روغتیا او چټک کار راز څه دی؟

نو ویې ویل: کینه می پریښوده، صحت راته سلامت پاتی شو.

**********

**دردونکی حقیقت:**

که چیرته مونږ پوهیدلی،

چې په غیاب کې زمونږ اړه څه ویل کیږی، نو د ډیرو خلکو په مخکی به مو موسکا نوی کړی.

**********

**په زړه پوری ده:**

مناسب وخت د راتلو انتظار مه باسه، ښایي هیڅ کله رانشی، بلکی د ترکاڼ په څیر کار وکړه، ترکاڼ د میخ ټکوهلو لپاره خالی ځای نه گوری ، بلکی هغی د ایښودنی لپاره ځای ټاکی او په ټک وهلو سره میخ ډیر په سختۍ خپله لار څیروی،

خپلی غوښتنې وپیژنه او په کلک هوډ ورته لار څیری کړه،

ځکه مترده او حیران شخص هیڅ کړنه نشي ترسره کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



************

**تریخ حقیقت:**

له یو حکیم څخه وپوښتل شو:

چې دا اسمان ولې دومره صاف وی؟

هغه موسکی شو او په ځواب کې وویل: ځکه هلته انسانان نه اوسیږی.

**********

**هڅه وکړئ:**

چې ځانته وفادره دوست پیدا کړئ.

ځینې سلفو ویلې دی:"ستره توښه وفاداره وروړ درلودل دی".

أداب الدين والدنيا (مخ١٦١ ).

************

**همیشه مثبت اوسئ:**

ځینې خلکو ژوند څخه د خوند او ګټې اخستنې فرصت له لاسه ورکړی،

منفی اړخو نو په ټینګار او له خپل حد څخه د هغی په لویولو روږدې شوي، سره له دی یې دژوند له مثبتو برخو ځان ناخبره ساتلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**********

**دبدلون اهم لاملونه:**

پنځه شیان که چیرته بدلون ومومی نو لامله یې انسان هم بدلیږی:

- قناعتونه.
- پاملرنې.
- ورتیاوې.
- اړیکې.
- رهبر او لارښود.

**********

**دپردیو کورونو پرده ساتل:**

د خلکو کورونو ته ړانده ننوځئ او گونگې تری راوځئ، هغوی د کورنیو چارو تفصیل او هلته اوریدلی خبرې په تاسو پوری هیڅ اړه نه لري.

************

**دخپل ځان کمی پیژندل:**

إمام الشاطبي د حمدون القصَّار رحمهم الله -نه نقلوي :

« څوک چې د سلفو ژوند لیک ته وگوري د سړیتوب له مرتبې څخه به دخپل ځان وروستوالې او کمی وپیژنی ».

(c) ketabton.com: The Digital Library



كتاب الإعتصام( ص١٢٧ ).

**********

**دنورو ښارل پرېږده:**

- خپلې کړنې وڅاره، دنورو دکړنو څارل پرېږده، ځکه د نورو نه څارل نیمه راحت دي.
- د نورو په چارو کې تدخل مه کوه، د نورو په چارو کې عدم تدخل نیمه ادب دي.
- په ځنو حالتو کې چپ پاتې شه، ځکه چوپتیا نیمه حکمت دي.

**********

**دچا سپکاوې مه کوئ:**

امام مناوي - رحمه الله - وايې:

" انسان لپاره مناسب دا ده چې د هيڅ چا سپکاوې ونه کړي، ښايي سپکیدونکی شخص پاک زړی، نیک عمله، او سپین نیته وي، الله جل جلاله د بندگانو سپکول، د پښيماني، ذلت او رسوايې سبب گرځي".

فيض القدير( 380/5).

***********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په عبادت کې ده سنت طریقه معتبره ده:**

امام البانی -رحمه الله- وایې:

"په عبادت کې ډیروالی معتبر ندی، بلکې معبتره دا ده چې عبادت دسنت په طریقه او له بدعت څخه لیرې وی".

ابن مسعود رضی الله عنه هم دی خبری ته اشاره کړی، فرمایې:" په سنت کې میانه روی په بدعت کې له کوښښ څخه غوره ده".

السلسلة الصحيحة(5/14).

**********

**دخلکو رضایت:**

حسن بصري-رحمه الله-وایې:

"ما چې کله خلک ولیدل چې له خپل خالق څخه نه رضا کیږی، نو پدی پوهه شوم چې ددی په څیر یې له مخلوق څخه هم نه رضا کیږی".

كذب المفتري(422).

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور شيان درته بريا تضمينوی:**

- تر ټولو زيات کار .
- تر ټولو زياته پوهه.
- تر ټولو زياتې اړيکې.
- تر ټولو ښه اخلاق.

**********

**درې شيان مه پرېږده چې ستا د ژوند پرېکړه وکړي:**

- بدې خاطرې.
- خلک.
- مال

**********

**د درېو جملو په اړه ځان ناخبره کړه:**

- ما اورېدلي.
- خلکو ويلې.
- خلک به وايې.

*********

د خپل ځان په اړه درې شيان مه منه:

- نور درته قناعت درکړي چې ته له هغوی ټيټ يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خپله دا عقيده ولري چې ته له هغوی کم يې.
- په نورو باندې د لوړوالی په توان دی شک وکړي.

**********

**خلک او لمونځ:**

علامه ابن القيم - رحمه الله- وايې:"خلک په لمانځه کې پنځو مرتبو ته ويشل کيږي:

**لومړی: مرتبه:**

هغه څوک دي چې د ځان سره ظلم کوي او د لمانځه په حق کې تفريط کوي، د لمانځه په وختونو، ارکانو، ټاکلی مقدار او اوداسه کې کمی کوي.

(ده ته به سزا ورکول کيږي).

**دويمه: مـــرتبه:**

هغه څوک دی چې لمانځه د وختونو، ټاکلی مقدار،اوداسه او ظاهری ارکانو خيال ساتی، خو د وسوسو په په وړاندی يې د نفس مقاومت پاتی راغلی وي، په لمانځه کې د وسوسو او افکارو سره پاتی کيږي.

(له ده سره به حساب کيږی).

**دريمه: مـــرتبه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څوک دی چې لمانځه د وختونو، ارکانو او تاکلی مقدار حفاظت او ساتنه کوي، نفس یې د وسوسو او افکارو په وړاندی مقاومت کوي، د دښمن سره په مبارزه بوخت وي ترڅو لمونځ تری غلا نه کړي.

(ښايي ده ته ببښنه وشي).

**څلورمه: مـــرتبه:**

هغه څوک دی چې لمانځه ته ودریږی، دهغه حقوق، ارکان،او تاکلی مقدار په سمه توگه ترسره کوي، زړه یې د لمانځه ارکانو او سمی کړنی ته متوجی وي ترڅو کوم شی تری ضايع نشي، بل کې ټول سوچ او فکر یې د لمانځه سموالی ،بشپړتیا او پوره والی ته وي، زړه یې په لمونځ او د الله جل جلاله په بندگی بوخت وي.

(ده ته به اجر او ثواب ورکول کیږي).

**پنځمه: مـــرتبه:**

هغه څوک دی چې لمانځه ته ودریږی د هغه حقوق، ارکان،او تاکلی مقدار په سمه توگه ترسره کوي، خو سره له دې یې خپل زړه د الله جل جلاله په وړاندی یخی وي، د زړه په سترگوهغه ته گوري او خارنه یې کوي، زړه یې د الله جل جلاله له مینې او لویې ډک وي، داسی وي گویا چې دا یې وینې او لیدنه یې کوي، ټولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسوسې او نفسی خاطرې د مينځه تللي وی او پرده يې د ده او الله جل جلاله ترمينځه اوچته شوي وي.

د ده او نورو د لمانځه په غوروالی او لويې کې دومره توپیر وي لکه ځمکه او اسمان، دا په لمانځه کې د خپل رب په رضايت بوخت وی او خپلی سترګې پری ويخوي.

(دا خپل رب ته نږدې دي ).

**********

**زمونږ ټولنی دننی حالت دقيق انځور:**

ابن مفلح الحنبلي رحمه الله وايې: "د خلکو ډير ناشنا حالت چې زما تر سترګو شو او ملاحظه می کړ، هغه دا چې: زياتره يې د هيوادنو او ودانيو په ورانيدو چغی وهی ، دخپلوانو او خپلو مشرانو په مړينه ژاړی، د رزق په کمښت افسوس کوي، د وخت او خلکو بدۍ بيانوی، د ژوند سختې يادوی ، دنرخونو لوړوالی او د حاکمانو زياتی ذکر کوی، دوی د اسلام ړنګيدل، دجوماتونو شړيدل، د سنتو مړينه، د بدعاتو خپريدل، د ګناهونو ترسره کيدل وليدل او وينی يې، خو مونږ يو هم ونه ليدو چې د خپل دين لپاره يې غبږ پورته کړی وي، پخپل تقصير يې ژړلی وی، د خپل عمر په بې ځايه تيريدو ښپيمانه شوی وی، زه ددی لپاره پرته ددين په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی لا پروايي، او د دوی په سترګو کې د دنیا له لوی او عظمت بل لامل نه وینم.

(الاداب الشرعية لابن مفلح ٣/٢٤٠).

**********

**نیکمرغی په دري شیانو کې ده:**

- د الله جل جلاله حکمونه پرځای کول.
- په خپله برخه قناعت کول.
- د الله جل جلاله په پریکړه راضی کیدل.

**********

**وخت او شپې ورځې دی وړاندې دوه انتخابه ږدي:**

- یا به د نورو لپاره قدوه ګرځي.
- او یا هم عبرت.

د ځان لپاره مناسب انتخاب وټاکه!.

**********

**دری خبرې باید د هر چا په ذهن کې ځای ولری:**

- له مرګ څخه خلاصی نشته.
- په دنیا کې ارامی او راحت نشته.
- او د خلکو له خبرو سلامتیا نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**********

**پوره بدله:**

علامة ابن عثيمين رحمه الله وايې:

پدی پوهه شه که چیرته دی دخپل مسلمان ورور عیبونه خپاره او ښکاره کړل!

هرومرو به الله جل جلاله پر تا داسی څوک مسلط کړي،

چې ستا عيبونه او نيمگړتياوی خپری او څرگندی کړي.

تفسير سورة الحجرات (١/٥٢).

**********

**علم او عمل:**

علامه ابن القيم رحمه الله وايې:

- که چیرته علم پرته له عمله فایده لرلي، نو الله جل جلاله به اهل کتابو د علماوو بدی نه بیانوله.
- که چیرته عمل له اخلاص پرته گټه لرلی، نو د منافقینو بد به نه ویل کیدل.

**********

**شخصیت لوړونه:**

د خلکو خبرې د خاورو په څیر دی، که په هوا کې وانلوځی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د قدمونو لاندې کيږي.
سالم اوسه د خلكو ژبې نه چوپ کيږې.
**********

**شخصيت لوړونه:**

ذره بين دی يو اړخ ته کړه....
د بې ارزښته کړنو لوړول د سترتيا پرته بله مانا نه لري،
هر څه ته مناسب اهميت ورکړه که چيری ورته له حده زيات ارزښت ورکړي د هغه سره چلند به درته ستونزمن شي.
***********

**اتفاق:**

ابن عثيمين رحمه الله وايي:
" هر هغه څه چې د خلكو ترمنځ د کينی، جلاوالی، او دښمنی لامل ګرځي شريعت يې په کلکه ردوي، ځکه د اسلام سپيڅلي دين اساس د مسلمانانو ترمنځ په يووالی، محبت او دوستی بنا دي".
الشرح الممتع( 143/8)
**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دفکر وړ ده:**

ایا زمونږ په ژوندیو تورسرو غیرت کول مهم ندی؟

ښځینه مړی د تدفین پر مهال یې محارم د قبر څنډو ته راټول شوی وی د مړی له ځای یې کړی تاو کړی وی ترڅو پردی کس ورننږدی نشی.

پرلپسی په لوړ غږ اواز کوی، جنازه پټه کړی قبر ته پرده وکړی.

دا ټولی کړنې پخپلی تور سری باندی دوی د غیرت څرگندونه کوي پداسی حال کې چې هغه په کفن کې مړه پرته وی.

خو په ژوندنی بیا د ډیرو کړنه ددی برعکس وی خپلو تورسرو ته د بې پردگی، مخ د لوڅوالی او هغه ناروا لباسونو د اغوستلو اجازه ورکوي چې هغوی بدن د اندامونو ښکارندوې کوی.

**********

**دردناک حقیقت:**

مونږ هغه امت وو چې څه وخت مو گډې اوبزې څرولی،

د اسلام په راتلو سره مونږ داسې امت شو چې د امتونو مشرې او ساتنه مو پیل کړه،

خو کله چې مو اسلام ته شاه کړه د گډو په څیر مو نور امتونه څروی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**********

**پرتله:**

گټې له الماسو څخه ډیرې دراندې وې،
خو له الماسو سره هیڅ نه مساوي کیږي،
همدرانگه اشخاص هم،
سړیتوب او مقام یې باید له منصب او رتبې قیاس نشي بلکې په اخلاقو یې قیاس شي.

***********

**په الله جل جلاله باوري اوسئ:**

دگناه لپاره توبه شته،
د غم لپاره خوشحالي،
د تنگستیا لپاره راحت،
دسختی لپاره اساني،
دبدبختي لپاره نیکبختي،
او د هر څه لپاره حل،
خو یوازې صبر وکړئ او په الله جل جلاله باوري اوسئ.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجاهد رحمه الله وايې:

يقينا الله جل جلاله ديو چا د دينداری او نيک عملی له امله د هغه بچيان او لمسيان صالحه او نيک عمله کوي.

الحلية لأبو نعيم (285/3)

**********

**نورو ته احترام لرل:**

نورو ته احترام او درناوې درلودل هغوي ته ستا د اړتيا په معنی ندې، بلکی دا ستا اخلاق دی که څه هم هغوي يې وړ نه دي.

ستا ارزښت ستا په اخلاقو پوری تړلی دی.

**********

**شخصيت لوړونه:**

که په ژوند کې هر څه د لاسه ورکړي، خو په الله جل جلاله باندی خپل باور له لاسه مه ورکوئ

**********

**دوه شيان انسان نړوي:**

- په تير وخت په اړه فکر کول.
- او دنورو په کړنو ځان مشغولول.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شخصیت لوړونه:**

زما له ناوړه اخلاقو شکایت مه کوه!

بلکې ماته په خپل ځان کې وښایه، چې باید ښه اخلاق څرنګه وي.

**********

**الهي رښا:**

د نورو په بدو کړنو او ویناوو راضي کیدل او پرې خوښي څرګندول هغې د کړنې په معنی دي.

الله جل جلاله فرمایي:(( إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ )).

ژباړه: کله چې تاته منافقین راشي.

دغه وینا یواځې ابي ابن سلول کړې وه،

خو الله جل جلاله یې نسبت ټولو ته وکړ، ځکه دوي ټول پرې راضي ول!!

**********

**دوستي کله نړیږي:**

د خلکو ترمنځ دوستي نه نړیږي،

مګر داچې کله یې ترمنځ ملامتیا زیاته شي، دروغ ډیر شي، پاملرنه او اهتمام کم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**********

**تعصب:**

**باید تعصب یواځې د دلیل لپاره وی نه د خلکو د نظرونو لپاره**

**امام احمد بن حنبل رحمه الله وایې:**

- **زما د مالک، شافعی، اوزعی او ثوری- رحمهم الله- تقلید مه کوئ، بلکی علم له هغه ځایه یې واخلئ چې هغوي تری اخستي دي.**
- **بیا وایې: د اوزعی راي، مالک راي، او ابو حنیفه- رحمهم الله- راي ټولې اراء او نظرونه دي، چې زما په وړاندې یو شان دی، بلکی حجت او دلیل یواځې په اثارو کې دی.**

**صفة الصلاة للألباني •**

**********

**له دریو ځان وساتئ:**

- **دخوښی پر وخت له ژمنی.**
- **د غوسی پر وخت له ځوابه.**
- **او دغم پر وخت له پریکړی.**

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډه کیسه خو د ژوند تګلاره ټاکی:**

یو سړی عبد الملك بن مروان ته راغلی وویل:

زه دی له یو کاره خبروم هغه ورته وویل:

خبر می کړه خو دروغ به نه وایې، غیبت او منافقت به هم نه کوئ،

هغه وویل: بیا خو ماته بیرته د ستنیدو اجازه راکړه.

**********

**الهي ربنا:**

هغه رب چې نیتونه او خاطرې خاری، نو د کړنو او او ویناوو خارل به یې څرنګه وی!!

الله جل جلاله فرمایې:((وَأَسِرُّوا قَوْلَكُمْ أَوِ اجْهَرُوا بِهِ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ))[سُورَةُ المُلْك : 13]

ژباړه: که تاسي پټي خبري وکړئ او که په لوړغږ (د الله لپاره یو شان دي)؛ هغه خو آن د زړونو په حال باندي پوهیږي.

**********

**د نورو سره مو اخلاق او رویه سمه کړئ:**

نیکه می راته وویل:

ای بچوړیه زړونو دترلاسه کولو او زړونو دماتولو ترمنځ یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باریکه تار دی چې هغی ته اسلوب وایې.

**********

**شخصیت لوړونه:**

که غواړی چې زما شخصیت معلوم کړی نو له ما پوښتنه وکړه یا راسره ملتیا وکړه، که دا دی له وسه پوره نوی،
نو زما په اړه له چا پوښتنه مه کوه، ځکه زمونږ ټولنه له کینه گرو او نفاق اچوونکو ډکه ده.

**********

**وهم او حقیقت:**

له وهمی او خیالی ماڼیو څخه د حقیقت جونگړه ډیره غوره ده

**********

**په اړه یې اندیښنه مه کوه :**

که څوک تاته رد بد وایې ستا د رسوایې او زیان هڅه کوی، دا مانا نده چې ته یې د زړه په ترلاسه کولو کې پاتی راغلی یې بلکی تا یې له ناوړه څیری پرده پورته کړه.

**********

نن سبا په زیاتو انسانانو دغه متل ښه تطبیقیږی چې وایې:
ټول عمر یې ورسره ښه وکړل یوه ورځ ورسره بد وکړل د عمر ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې هيروي او د ورځې بد يادوي.

**********

**د زړه سلامتيا:**

ابن القيم رحمه الله زړه د سلامتيا په اړه وايې:

د زړه سالمتيا تر هغې نه بشپړيږي تر څو چې له پنځو شيانو سالم پاتې نشي:

- له شرک څخه چې توحيد ماتوي،
- بدعت چې د سنت خلاف کوي،
- شهوت چې د الهی امر مخالفت ته دی رابلی،
- غفلت چې د ذکر سره تضاد لری،
- خواهش چې د اخلاص سره ټکر لري.

الجواب الکافی( ١٢٦).

**********

ابن القيم رحمه الله وايې:«

زړه دی په دری ځايونو کې گوره:

- قران کريم د اوريدلو په وخت کې
- د ذکر په مجلسونو کې.
- د ځانلوالی عبادت په وختونو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که پدې ځایونو کې دی ونه موند نو دالله تعالی نه سوال وکړه چې د زړه لورېینه دربانديې وکړي، ځکه ته زړه نه لري».

*********

**دا کار کول په ډیرو سخت وي:**

مُوَرِّقٍ الْعِجْلِيِّ -رحمه الله-وايي :هغه څه چې زه يې دلسو کلونو راهيسی د کولو په هڅه کې يم خو تر اوسه پورې پرې نه يم توانيدلای،

(المعلى بن زياد) تری وپوښتل دا کوم کار دی أبا المعتمر ؟

هغه وويل : د بې ځایه خبرو چوپ پاتې کیدل ".

طبقات ابن سعد (7/ 213).

**********

**شخصيت لوړونه:**

هر شخص د خپل فکر او پاملرنې له زاويي د نورو کړنې ښاری،

- دچا غیبت مه کوئ.
- دچا سپکاوی مه کوئ
- په چا ظلم مه کوئ
- او مه دچا په نیتونو او خاطرو کې ننوځئ

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دردونکی حقیقت:**

که په اوس وخت کې درته فرضا دا ژمينه مساعده شی، چې دخپل ځان په اړه پشی شاه کيدونکی خبرې واوری،

نو له هغی چا به درته سخته صدمه ورسی چې مخامخ درته خندا کوي.

***********

**د وخت ارزښت:**

**لومړي: وخت د اسلامې تاريخ پاڼو کې:**

(1) ابوبکر رضي الله عنه وايې:«الله تعالی لپاره د ورځی خپل عمل دی چې د شپې نه قبلوی او د شپې خپل عمل دی چې د ورځی نه قبلوی».

(2) عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايې:« په هيڅ څه دومره نه پښيمانه شوی بې له هغه ورځی چې لمر يې پريوځی، عمر می کم شي او عمل می زيات نشي».

(3) عمر بن عبد العزيز رحمه الله وايې:« شپه او ورځ په تا کې کار کوي(ژوند دی کموي)، ته په هغی کې نيک عمل وکړه».

(4) حسن بصري رحمه الله وايې:« ای بنی ادمه! يقينا ستا عمر څو ورځې دی، کله چې ورځ تيريږی ستا د ژوند يوه برخه هم له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځي».

(5) ځینو ویلي:«ما داسې خلک لیدلی ول چې له درهم او دینارو څخه به یې زیات د خپل وخت ساتنه کوله».

(7) أبو العلاء المعري رحمه الله وایې:« دري شیان نه راستنیږي: وخت، ښایست او ځوانی».

(8) یحیی بن هبیره رحمه الله وایې« وخت هغه سرمایه ده چې باید ساتنی ته یې پاملرنه وشي خو زه وینم چې له تاسی څخه ډیر په اسانی ضایع کیږي».

(9) ځینې حکیمانو ویلي:« څوک چې یوه ورځ بې لدې تیره کړی چې کوم حق ونه سپاري، کوم فرض اداء نه کړي، کوم د خیر کار ترسره نه کړي او کوم علم حاصل نه کړي نو ده د خپلې ورځی نافرمانی وکړه او له ځان سره یې زیاتی وکړه».

(10) د وخت په اړه مأثوری ویناوې:

- د وخت ضائع کول د بدبختۍ نښه ده.

وخت سره زر دی.

- وخت د توری په څیر دي، که ته یې پری نه کړي تا پری کوي.
- د نن کار سبا ته مه پریږده».

(c) ketabton.com: The Digital Library



(11) ابن الجوزی - رحمه الله- د وخت په اړه وايي:« انسان ته پکار دی چې د زمانی ارزښت او د وخت قدر وپيژنی، د الله له اطاعت پرته يوه شيبه هم ضايع نه کړي، په لومړيتوب سره په کې غوره کړنه او وينا وړاندې کړي، بايد د نيکی په کارونو کې يې نيت سست نوی تر څو بدن يې له کولو څخه عاجزه نشي، يقينا سلفو به د خپل وخت له هرې شيبې ګټه اخستله، له عامر بن عبد القيس څخه نقل دي، يو سړی ورته وويل: ماته څه ووايه، هغه ورته وويل: لمر راونيسه».

**دويم: وخت د غربی پوهانو له نظره:**

(1)« فوضی هله عامه شي کله چې مونږ وخت تصادف ته پريږدو» فکتور هوجو.

(2) ايا په ريښتنې د ژوند سره مينه لري؟ که داسې وی نو وخت بې ځايه مه تيروه ځکه وخت د ژوند اصل او جوهر دي» فرانکلين.

(3) په ښه توګه د وخت حفاظت او ساتنه وکړه، ويې څاره، دغه کړنه د هر ساعت او دقيقه سره وکړه، ځکه وخت دی له ګوتو څخه داسې وځي لکه خوی مار، د خپل وخت هرې دقيقی ته د ارزښتناک او سپېڅلې شی په نظر وګوره، هغی ته اهميت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرګندتیا او اهتمام ورکړه» ثومان مان.
(4) هغه ستونزه چې زمونږ په نفسونو کې پټه ده، دا ستونزه نده چې مونږ وخت نلرو، بلکې ستونزه له وخت څخه په ښه شکل د ګټې اخستنې په کیفیت کې ده، د وخت- د مال برعکس- جمع او ذخیره کول ناشوني دي، ځکه مونږ یې په مصرف مجبوره یو، لکه په یوه دقیقه کې د 60 ثانیو د سرعت په څیر، که زمونږ خوښه وي او کنه، خو داسې ښکارې چې وخت د ارزښت پوهې ته کم پام شوي، او دهغې په ناسمه توګه مصرف ته زیات» د.ر.أ ماکینزي.
(5) مونږ نشو کولای چې د دقیقو ستن کنترول کړو، نو بیا ستونزه د ساعت په اداره کولو کې نده، بلکې په مونږ کې ده چې ځانونه څنګه د ساعت موافق عیارکړو»د.ر.أ ماکینزي.

**********

**د علم په خپرولو کې سستی مه کوئ:**

- ابن المبارك رحمه الله وایې :

« له پیغمبری څخه وروسته له علم نشرولو او خوررولو بله غوره درجه نه پیژنم ».
تهذیب الکمال (١٦/٢٠).

(c) ketabton.com: The Digital Library



- امام ابن القيم رحمه الله وایې:

« په علم سخا او د هغې خپرول د سخا له لوړو مرتبو څخه دی، په علم سخا کول د مال له سخا بهتر دی، ځکه علم له مال څخه غوره او ارزښتناک دی ».

مدارج السالكين (٢/٢٨١).

- ابن الجوزي رحمه الله وایې:

« که څوک خوښه گڼی چې له مرگ څخه وروسته یې نیک عمل پری نشی نو علم دی خپور کړی ».

التذكرة (٥٥).

**********

**عمل او وینا مو سر یو کړئ**

زبيد اليامى رحمه الله وایې:

د ابن مسعود رضی الله عنه خبری شل کاله چوپ پاتی کړم او هغه دا: " د چا وینا چې له عمل سراه برابره نوی هغه خپل ځان رټی".

**********

**گټوره فائده او قیمتی وینا:**

سري السقطي وایې:

د شبهاتو په پریښودولو نشي توانیدلای مگر هغه څوک چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهوات پرېږدي.

الطيوريات( 59/1)

**********

**شخصيت لوړونه:**

چا چې دی درناوی وکړ ته يې هم درناوی وکړه،

چا چې سپک وګڼلې، د هغه نه په لرېوالی د ځان درناوی وکړه.

**********

**د قناعت عينكې:**

قناعت هغه عينكې دی چې په سترګو يې كړې، نو ژوند درته ښكلې ښكاري،

خو كه د سترګو دی لرې كړي نو سترګی دی بيا په هيڅ شی نه مړيږي.

**********

**بدګمانی:**

بكر المزنی رحمه الله وايې:

" له هغه خبرو ځان وساته كه په كې په سمه وي نو ثواب نه درسي او كه په كې خطا وي نو ګناهنګاريږي، چې هغه پخپل مسلمان ورور بد ګمانی كول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رواه ابن سعد في الطبقات( 7/157)

**********

**دفكر وړ ده:**

پخپلو جيبونو كې د صدقى پر وخت تر ټولو كم نوټ لټوو،

او بيا د الله نه غواړو چې مونږ ته پرى جنت الفردوس راكړى،

د الله په لار كې مو دصدقى كچه څومره ټيټه ده،

او غوښتنې مو څومره لوړى دي.

**********

**د نصيحت او نيوكى منل:**

ابن قدامة المقدسى رحمه الله وايي:

"سلفو به هغه څوک خوښول او مينه به يې ورسره لرله چې هغوى ته به يې د هغوى نمګړتياوې او عيبونه ورپه ګوته كول،

خو نن سبا په غالبه توګه مونږ ته تر ټولو د بغض او كينى وړ هغه څوک دي چې مونږ ته زمونږ نميګړتياې او عيبونه راښايي".

منهاج القاصدين (١٩٦)

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له هغه چا سره مینه وکړئ چې درته سمه لار ښايي:**

علامة ابن عثيمين رحمه الله وايي:

«هر څوک چې له تاسره په دين نصيحت نيكيو ته په هڅولو او له بديو څخه په منع كولو كې ښيگړه او مرسته وكړي،

نو دا تقاضا كوي چې ته له هغه سره مينه او محبت وكړئ،

په اوسنۍ وخت كې ځينو خلكو د كړنې پر خلاف،

چې ته ورته په نيكيو امر وكړئ له بديو څخه يې منع كړئ، او ورته د خير او سمې لار لارښوونه وكړئ،

نو زړه درته له كينې او بغض ډكوي،

چې دا كار هم د دين او هم د عقل خلاف دي».

شرح اقتضاء صراط المستقيم (ص 279)•

**********

**ريښتنى ورورلى:**

امام ابن باز رحمه الله وايي:

«ورور دي هغه دي چې درته يې نصيحت او يادونه وكړه او له بدو يې خبر كړي،

نه هغه چې له تا ناخبره، لا پروا او درته چاپلوسى كوي،

په ريښتنى ورور دى هغه دي چې درته نصيحت او يادونه كوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله جل جلاله لور ته دی رابلي،
د خلاصون لار دربښايي ترڅو يې خپله کړئ،
د هلاکت له لارې دی ويروي او دهغې ناوړه پايله دربښايي ترڅو
ترې ځان وژغورئ».
فتاوی ابن باز (14/21)•
**********

**حق بايد له هر چا ومنل شي:**
فضيل بن عياض رحمه الله نه د تواضع په اړه وپوښتل شو،
هغه وويل:« حق ته تيټه‌دل، او ورته غاړه کيښودل، او له هر چا
څخه د حق منل».
تهذيب المدارج {2/680}•
**********

**امام سيوطي رحمه الله وايې:**
د ماشومانو پنځه خويونه که چېرې لويانو د خپل رب سره درلودلی
نو وليان به ول:

- د رزق پروا نه لري.
- د ناروغۍ پر وخت له خپل رب څخه فرياد نه کوي.
- په ګډه خوراک کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ویرې پر وخت یې له سترګو اوښکې روانې وي.
- د جنګ او جګړې پر وخت د سولې په لور منډه کوي.

حسن المحاضرة (1/521)•

**********

**شخصیت لوړونه:**

د خپل ځان د درناوي یو ډول دادي،

چې له هغه اشخاصو جلا شئ چې ستا قدر او اهمیت نه پیژنی.

**********

**د ناوړه اخلاقو خاوند:**

په خلکو کې تر ټولو د ناوړه اخلاقو څښتن هغه دي، چې کله درڅخه ناراضه او خپه شي:

- نیکی دې هیره کړي.
- راز دې افشا کړي.
- دوستی دې له یاده وباسي.
- او هغه څه درپسی وایې چې په تا کې نوي.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چوپتيا:**

په سختو حالتو کې چوپتيا درناوی او احترام زيږوی، په خلاف د جنجال او جګړي چې د کينی او نفرت لامل کيږي.

**********

**عقلونه هله کوچنې شي،**

چې د نورو په عقلونو مشغوله شي، او بيا هله لوړ شي چې کله يې ترکيز او پاملرنه خپل ځان ته شي.

**********

**نيت او عمل مو يوائی د الله لپاره ځانګړی کړئ**

امام شافعي رحمه الله وايي:

«ای ابو موسی! که خپل ټول کوښښ وکړئ چې ټول خلک خوښ وساتئ نو دا ناشونی ده،

کله چې داسی ده نو خپل عمل او نيت يوائی د الله لپاره خالص کړه».

شعب الإيمان للبيهقي(10/201)

**********

يوائی خوښ به يې لدينه چې ترڅنګ دی زر منافقين وي.

***********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ذکر اړینې فائدې:**

- ابن القيم رحمه الله وايي :

د سحر او ماښام اذکار د زغرې په څير دي څومره چې يې کلک والی زياتيږي هغومره يې څښتن ته زيان نه رسيږي، بلکې کله د زغرې کلک والی تر دې ورسيږي چې غشی له ستنيدو وروسته بيرته ويشتونکي ته رسي..

- ابن عثيمين رحمه الله وايي :

د سحر او ماښام أذکار په ژغورنه کې د يأجوجو او مأجوجو له ديوال څخه پياوړې دي د هغه چا لپاره چې له حاضر زړه نه يې ووايي..

- ابن الصلاح رحمه الله وايي :

څوک چې د سحر او ماښام د اذکارو ، د لمانځه وروسته اذکارو او د خوب د اذکارو پابندي وکړي، د الله جل جلاله له ذکر کونکو شميرلی شي...

- ابن القيم رحمه الله وايي:

د ذکر له ګټو څخه دا دي چې ذکر کونکي ته قوت او ځواک وربښي، تر دې چې له ذکر سره هغه څه شوني دي چې د ذکر پرته يې تصور نشي کيدالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ابن کثیر رحمه الله وایې :

د اذکارو جاکټ واغوندئ تر څو مو د پیریانو او انسانانو له شرونو وژغورئ ،،،

روحونه مو په استغفار(ښښنه) پټ کړئ تر څو د شپې او ورځې گناهونه مو ورژوئ،،

کچیرته درته مصیبت در ورسی چې تاسو یې بد گڼئ زر دی چې تاسی به راضی او باوری شئ چې دا هغه خیر دی چې د رب له لوری تاسی ته مقدر شوی دی، ځکه تاسی په رب پوری پناه نیوله ده،،

- ابن القیم رحمه الله وایې:

دا ځکه چې کله د زړه غفلت زیات شی نو کلک والی او سختی یې هم زیاته شی، کله چې دالله جل جلاله ذکر وکړي دغه سختی یې داسی لېرې شی لکه څرنگه چې قوله په اور گې ولی کیږي.

*د زړه سختی د الله جل جلاله د ذکر په څیر په بل څه له مینځه نه ځی.

- په هر حالت کې د خپل رب یادونه وکړئ:

ابن القیم رحمه الله وایې:

الله تعالی هیڅکله د ذکر کوونکی ژبې اجر نه ضایع کوي، بلکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر کونکی ته پرې ثواب رسي که څه هم زړه یې غافله وي ..خو دثواب ترمنځ تفاوت موجود وي.

روضة المحبین (1/309).

**********

**اخلاق خپلی مرتبې لري،**

څومره چې دی اخلاق لوړیږی هغومره دی د خلکو ترمنځ قدر لوړیږي

**********

**نور د کړنو سره د چلند اسانه لار:**

که د خلکو خبرو درمند کړئ،

نو خپل نفس په ډیر فکر او سوچ لا مه دردمند وه،

چې ولی یې دا وویل او ولی یې داسې وکړل،

لومړی په خپل رب باور وکړه او بیا پخپل ځان،

ترڅو چې هغوی ستا په څیر انسانان دی نو د ژبو پرته بل څه نه لري،

نه ګټه درسولی شي او نه ضرر،

یو کار ته له خپلی اندزی زیات ارزښت مه ورکوه.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بشريت د عقلونو ډولونه:**

د انسانانو عقلونه په درى ډوله دي

- لوړ عقلونه چې له افكارو او نوښتونو بحث كوي.
- متوسطه عقلونه چې له پيښو بحث كوي.
- ټيټ او كمزورى عقلونه چې له خلكو خبرې كوي.

**********

علاّمة ابن عثيمين رحمه الله وايي :

" د قران كريم زياته لوستنه زړه د ثبات او سلامتيا تر ټولو ستر سبب دى "

نورعلى الدرب (٢٠\١٢).

**********

**خلكو ته د اسلام ناشناكيدل:**

إمام ابن القيم - رحمه الله- وايي :

(( كله چې د اسلام ناشناوالى زيات شى، نو علماء به كم او كم عقل به زيات )).

زاد المعاد ( ٣/٤٤٣ ).

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پياوړی عزم:**

د حق په لاره کې يوائې پاتې شه، خو د باطل د لارې سر لښكر مه جوړيږه.

**********

**د اخرت په فكر كې شئ:**

عمر بن عبد العزيز رحمه الله وايې:

اخرت مو سم كړئ دنيا به مو سمه شي، او د باطن اصلاح وكړئ ظاهر به مو اصلاح شي.

حلية الأولياء٥(/٢٦٦).

**********

**د نفس رضايت:**

ابن الجوزی رحمه الله وايې:

د انسان ستر مصيبت د خپل نفس رضا كول او پخپل علم قناعت كول دی، چې دا ستونزه په ډيرو خلكو كې عامه شوی ده.

صيد الخاطر ابن الجوزی (مخ ٤٧٠)

**********

**لمونځ:**

تر څو چې صحت درسره په جاى نماز د ودريدو ملتيا كوی، نو تراوسه دی هيڅ هم د لاسه ندی وركړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**********

**سوچ او فکر ته اړتيا لرې:**

الله جل جلاله فرمايي: ((وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَٰهِرَةً وَبَاطِنَةً ۗ )) او خپل ښكاره او پټ نعمتونه يې پر تاسي تمام كړي دي.

مجاهد وايي: ښكاره نعمتونه اسلام او رزق دی، او پټ نعمتونه د گناهونو او تيروتنو پټوالی او پرده ده.

**********

**مه خفه كيږه:**

مه خفه كيږه كه يو څوک ستا قدر او احترام نكوی، ځكه دا دانسانانو طبيعت دی تر هغی د نعمت ارزښت نشی پيژندلای تر څو چې له منځه ولاړ شی.

**********

**په خپلو كړنو كې د دو شيانو كوښښ كوه:**

- اخلاص
- د نبوی سنتو پيروی.

لدی پرته عمل به دی بيا داسی وی لكه څرنگه چې الله تعالی يې حال بيان كړی:((وَبَدَا لَهُم مِّنَ اللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا يَحْتَسِبُونَ))[سُورَةُ الزُّمَر : ٤٧]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الله لخوا به دوی ته هغه څه ښکاره شي، چې هیڅکله یې د هغه فکر نه دی کړی.

مجاهد وایې: داسې عملونه یې کړي ول چې دوی پرې د نیکیو گمان کولو خو هغه په ریښتنی گناهونه ول.

**********

**تر ټولـــو ســـتر سیاست چوپتـــیا ده**

د هرې قضیې او حالت په وړاندې به انسان د ژبې استعمال له دری حالاتو خالي نوی:

- اقرار کول.
- انکار کول:.
- چوپ پاتې کیدل.

**د چوپتـــیا په اړه د ســـلفو وینـــاوې:**

(١) ابو العتاهیة وایې: څوک چې چوپ پاتې شو نجات یې وموند، چاچې د خیر او نیکۍ خبرې وکړې ښیرازه شو، چاچې له الله سره ریښتنولي وکړه سرلوړی شو ، چاچې د علم طلب وکړ پوهه یې ترلاسه کړه، چا چې چې له خلکو سره ظلم وکړو بد یې وکړل،چا چې له خلکو سره نرمي وکړه په رحمت کې شو، چا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوږ ونیو پوهه شو.

(۲) أبو الذیال وایې:چوپتیا داسې زدکړه لکه څرنګه چې خبرې زده کوې، که خبرې درته لارښوونه کوې نو چوپتیا دې ساتنه کوي، په چوپتیا کې به دوه ښیګڼې ترلاسه کړې:

•له هغه چا به زدکړه وکړې چې له تا پوهه دی.

•او دهغه چا له جهالته به خلاص شې چې له تا ناپوهه دی.

(۳) له أکثم بن صیفی څخه وپوښتل شو په انسانانو کې دی څومره نیمګړتیاوې پیدا کړې؟هغه ځواب ورکړ: له شمیرولو زیاتې، خو ما چې شمیرلې اته لکه عیبونه دي، چې دغه ټول د ژبې په ساتنه پټیږي.

(٤) سلمان فارسی رضی الله عنه ته یو سړي وویل ماته نصیحت وکړه، هغه ورته وویل، خبرې مه کوه. هغه وویل: څوک چې د خلکو ترمنځ اوسیږي نشي توانیدلای چې خبرې پریږدي.
سلمان فارسی ورته وویل: که چیرته دې خبرې کولې نو حق وایه او یا چوپ پاتې شه.

(٥) ابو بکر رضی الله عنه به خپله ژبه ونیوله او ویل به یې: دې زه له ستونزو سره مخامخ کړی یم.

ابن مسعود رضی الله عنه به ویل: زما دې په الله جل جلاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم وی چې له هغه پرته بل څوک د عبادت مستحق نشته، د ځمکې پرمخ له ژبې پرته بل څه د اوږد بند وړ ندی.

(٦) وهب بن منبه وايې: ټول حکماء پدی متفق دی چې چوپتیا د پوهی او حکمت اساس دی.

(٧) شمیط بن عجلان وایې: ای بنی ادمه ته نه یې چوپ شوی، مگر په امن شوی یې، کله چې خبرې کوی نو احتیاط وکړه، یا به خبرې ستا لپاره دلیل وی او یا به پر تا دلیل وی.

(٨) فضیل بن عیاض ویلې دی: حج او د الله جل جلاله په لار کې څوکی اوجهاد کول دژبې له بندولو سخت ندی، کچیرته د خپلی ژبې په اړه درسره فکر پیدا شو . نو ته په یو سخت او اړین فکر کې یې.

(٩) له عبد الله بن مبارک رحمه الله څخه لقمان د وینا اړه وپوښتل شو چې خپل ځوی ته یې ویلی: که چیرته خبری کول له سپینو زرو دی نو چوپتیا له سرو زرو څخه ده، عبد الله بن مبارک ورته وویل ددی معنا داده: که الله جل جلاله د بندگی خبرې له سپینو زرو دی نو هغه د نافرمانی خبرې پریښودل له سرو زرو څخه دی، ځکه دا دی خبری ته ورگرځی چې له گناهونو څخه ځان ساتل غوره دی له نیکیو کولو نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ایا خبرې کول غوره دی که چوپتیا؟**

(۱۰) د احنف بن قیس په وړاندی یادونه وشوه چې خبرې کول غوره دی اوکه چوپتیا؟ ځینو وویل: چوپتیا غوره ده احنف بن قیس وویل خبری غوره دی، ځکه د چوپتیا گټه له خپل خاوند پرته بل چاته نوی، او غوره خبرې هر اوریدونکی ته گټورې وی.

(۱۱) د عمر بن عبدالعزیز په مخکی یو عالم وویل: له پوهی سره چوپتیا داسی ده لکه سره د علمه خبری کول، عمر بن عبد العزیز ورته وویل:زه امید لرم چې له ددی دواړو څخه به په ورځ د قیامت سره له علمه خبری کونکی غوره وی، ځکه خبرو گټه یې نورو ته ده او دچوپتیا گټه یې ځانته ده،

هغه ورته وویل: ای امیر المؤمنینه د فتنی وینا په اړه څه وایې: نو عمر بن عبد العزیز په ژړا شو.

(۱۲) عمر بن عبد العزیز رحمه الله ویلی دی:" چاچې خپلی خبرې له عمله حساب کړی، پرته له گټورې وینا به یې خبری کول کم شی، ځکه زیاتره خلک خبرې له خپل عمله نه حسابوی، په هغه کې له حده وځی او په اړه یې فکر نکوی.

(۱۳) له سلیمان بن عبد الملک څخه نقل شوی چې ویل به یې:" چوپتیا د عقل خوب او خبری یې ینبوالی دی، چې یو حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بل حالت پرته نه تکمليږي، خبرې او چوپتيا دواړه اړين دي.

(١٤) خو دچوپتيا په هکله غوره وينا د عبيد الله بن أبی جعفر ده چې وايې: کله چې يو څوک په مجلس کې خبرې کوي او له خپلو خبرو په تعجب کې شي نو چوپ دې شي، او که چوپ وي او له خپلې چوپتيا په تعجب کې شي نو خبرې د پيل کړي.

هغه چوپتيا چې غوره ګڼلې شي او سلفو يې په اړه تيزي ورکړې: د نارواو او يا دهغه مباح خبرو پرېښودل دي چې انسان د حرامو لور ته رابلي، او له هغه چوپتيا منع شوې، چې سره له توانه د حق او يا هغه روا وينا پرېښودل وي چې په هغه کې خير او شر مساوي وي.

**کله خبرې کول ګټور دي او کله چوپتيا او په کوم ځای کې کوم يو مناسب دی:**

(١٥) ابن القيم رحمه الله وايې: "ژبه دوه ستر افتونه لري که انسان له يو څخه خلاصی بيامومی نو له دويم څخه نشي خلاصيدای:

د خبرو افت او د چوپتيا افت، کله هر يو يې په خپل وخت کې له بله ستره ګناه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حق څخه چوپ کیدونکی گونگ شیطان دی ، د الله تعالی څخه سرغړونکی، ریاکار او غوړه مال دی کله چې د خپل نفس په اړه ونه ویریږی.

په ناروا او باطله وینا کونکی هم ویونکی شیطان او د الله جل جلاله نافرمانه دی، زیاتره خلک په خپلو خبرو او چوپتیا کې بی لاری او ددغی دو ډولونو ترمنځ دی.

خو مینځ لارې بیا د سمی لاری څښتانان دی، خپلی ژبی له نارواو ساتی او په هغه څه یې خلاصوی چې دوی ته په دنیا او اخرت کې گټه رسوی، له دوی به هیڅ یو ونه وینی چې داسی خبری وکړی چې له فایدی پرته دی ضایع شی، بی لدی چې په اخرت کې ورته زیان ورسوی، یقینا د قیامت په ورځ به انسان د غرونو هومره له نیکیو سره راشی خو وبه وینی چې ژبی به ورته ټولی ړنگی گړی وی، او یا به دغرونو هومره له گناهونو سره راشی خو وبه وینی چې ژبی به ورته د الله جل جلاله د ډیر ذکر له امله ټول ختم کړی وی.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ریښتنې نیکمرغې:**

عبد الرحمن السمیط رحمه الله وایې:"زه پدې وپوهیدلم چې ریښتنې نیکمرغه د نورو زړونه خوشحالول دي".

**********

**څلور ربانې وعدې**

﴿ لئن شکرتم لأزیدنکم ﴾

که شکر مو وویست څه به درته نعمت زیات کړم.

﴿ فاذکروني أذکرکم ﴾

ما یاد کړي څه به تاسو یاد کړم.

﴿ ادعوني أستجب لکم ﴾

ما راوبلي څه به ستاسو غوښتنې ومنم.

﴿ وما کان الله معذبهم وهم یستغفرون ﴾

ندي الله جل جلاله عذاب ورکونکي دویته پداسی حال کې چې دوی ښښنه غواړي.

***********

**دا ډیر شرم دی:**

چې ته په هغه څه ویاړی، چې ستا کړنه نده،

پخپل ښائست مه ویاړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخپل نسب مه وياړه،
ځکه ته دی له موره پداسی حال کې زيږدلی يې چې د رنګ، صحت او نسب اختيارونکی نوی،
که د خلکو احترام نه کوی نو د خپل خالق احترام وکړه
يوائې پخپلو اخلاقو وياړه چې ستا کړنه ده
**********

غربت:

په غربت او بيوزلی کې تر ټولو غوره دا ده، چې مصلحت له ملګرو دی ليري ساتی.
**********

دټولنيزو رسنيو استعمال:

خواله رسنيو د استعمال پر وخت مو بايد دا ايت په پام کې وی ((يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ)). (سُورَةُ النُّور٢٤).

هغوی دي هغه ورځ نه هېروي چي کله د هغو خپلي ژبي، خپل لاسونه او پښې به د هغو په کړو وړو شاهدي ووهي.
**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اړتيا:**

اړتيا سپين ږيرى هم ټوپ وهنى ته اړ كوي.

*********

**عقل:**

يوائې دا پوره نه ده چې ته ښه او پياوړى عقل ولرى، بلكې مهمه او لازمه دا ده چې ته يې ښه او پر ځاى استعمال وكړې.

**********

**تل خيرخواه اوسه:**

- د نورو سوكالى ستا خوښى نه ختموى.
- د نورو مالدارى ستا رزق نه كموى.
- دنورو روغتيا ستا صحت ته زيان نه دى.

تل پاك نفسه او خيرخوا اوسه، د نورو لپاره هغه څه خوښ كړه چې د ځان لپاره يې خوښوى.

**********

**شخصى ژوند د تنظيمونى شپږگونې قواعد:**

- له استعمال وروسته ټول شيان خپل ځاى ته رسوه.
- له استعمال وروسته خلاص كړى شيان قلفوه.
- غورځيدلى شيان خپل ځاى ته اوچتوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ویستلی جامی (کالی) خپل ځایو ته راګرځوه.
- کوم شیان چې رغونی ته اړتیا لری هغه روغوه.
- د اړتیا وړ شیان له ځان سره یاداشت کوه.

***********

**د زړه تنګستیا:**

زړه می راتنګ شو له نیکه می وپوښتل چې څه وکړم؟

هغه راته په ځواب کې وویل: ای بچوړیه!

په دری شیانو خپل وخت مه ضائع کوه:

- په تیر شوی کار افسوس ځکه هغه نه راستنیږی.
- خپل ځان له نورو سره پرتله کول، ځکه دا کار کومه ګټه نه لری.
- ټولو خلکو د رضایت هڅه، ځکه دا ناشونی ده.

*********

**ګناهونه علم له مینځه وړی:**

ابن تیمیة-رحمه الله-وایې:

ځینی ګناهونه ګټور علم له مینځه وړی، بلکی ځینی یې د شته علم د هیرولو لامل کیږی

مجموع الفتاوی:( ١٤/١٦٠ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



*********

**د بچیانو روزنه**

ولې ډیر زر خپلو بچیانو سره اعصاب له لاسه ورکو؟!!!

- نسبت لویانو ته هغوی په خبره کم پوهیږي.
- د هغوی روزنه صبر او پرلپسی کوښښ ته اړتیا لري.

په یاد ولري چې زمونږ چغې هغوی ته زیان رسوی او له مونږ یې لیرې کوي.

**********

**اعتذار**

که چیری ستا په نفس د عذر وړاندی کول سخت وي، نو په یاد ولره چې ستا ناوړه کړنې د نورو په نفسونو سختې دي.

*********

**باید پر یو بل رحم وکړو:**

کچیرته انسانانو د زړونو لیدل ممکن وی، نو د هر زړه دردونکی کیسې به د لوستی وي،

راځی چې په یو بل رحم وکړو، ښایي الله جل جلاله پر مونږ رحم وکړي.

***********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستا ارزښت په تا پوری تړلی:**

خلکو ته په ځان ښوونه ژوند مه تیروه په دی تمه چې څوک دی خوښ کړی،

ستا ارزښت په نورو کې نه دی،

بلکی ستا په داخل پوری تړلی دی.

*********

**په ځان باور:**

په ځان باور دا عقیده لرل ندی چې ټول خلک دی تا خوښ کړی،

بلکی دا عقیده لرل دی چې د خلکو خوښی او نه خوښی ستا په شخصیت اغیز ونه کړی.

**********

**د هیڅ چا سپکاوی مه کوه:**

مرغان میږیان خوری خو چې کله مړه شی بیا یې مږیان په خوراک پیل کوی،

حالات بدلیږی....

د هیڅ چا سپکاوی مه کوه،

که نن ځواکمن یې نو په یاد ولره چې زمانه له تا ډیره ځواکمنه ده.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له جاهله ګیله مه کړئ**

إمام الذهبي-رحمه الله- وايې :

جاهل د خپل ځان رتبه او قدر نه پیژنی، نو څرنګه به د بل چا رتبه او احترام وپیژنی.

سیر أعلام النبلاء (٣٢١/١١).

**********

**د احترام پر ځای یې سپکاوی مه کوئ:**

شرمخ سره لدی چې ستر خطر دي خو خلک یې ستاینه کوی،

او سپی سره له دی چې د خلکو څوکی کوي دوی یې سپکاوی کوی،

همداسی ډیر خلک دهغه چا سپکاوی کوی چې خدمت یې کوی،

او هغه چا ته احترام لری چې سپکاوی یې کوی.

**********

**د خپلو ګناهونو پلټنه وکړئ**

((وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ)). ((سُورَةُ الشّورىٰ : ٣٠))

پر تاسي چي هر مصیبت راغلی دی، ستاسي د خپلو لاسونو له عملونو څخه راغلی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**********

**په سمه لار د تللو پایله**

الله جل جلاله فرمایي:

((وَأَلَّوِ اسْتَقَٰمُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَٰهُم مَّآءً غَدَقًا))

ژباړه: که خلك په ثبات سره پر سمه لاره تللي وای، نو موږ به هغوی ښه خړوبه کړي وای.

**********

**له اسلام پرته بل دین الله ته د منلو وړ ندی**

علامـــةُ ابنُ عُثيمين -رحمهُ اللهُ-وايي:

که هر څوک فکر کوی چې د ځمکی پر مخ الله جل جلاله ته د اسلام پرته بل دین د منلو وړ دی، هغه کافر دی چې په کفر کې يې هيڅ شک نشته دی.

مجموع الفتاوی (۳/۲۱).

**********

**د نظر ساتنې په اړه د سلفو ويناوې**

- أنس -رضي الله عنه- ويلي دی:

کله چې دی تر ځنګ ښځه تيريږی نو سترګې پټه کړه تر څو له تا واوړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الورع لابن ابي الدنيا (٧٢).

- ابن عمر -رضي الله عنه- وايي:

د خلکو کورونو او ودانیو ته ورښکاره کیدل د امانت له ضایع کیدو شمیرل کیږی.

الورع لابن أبي الدنيا(٧١).

- له قيس بن الحارث روايت دی وايي:

سلمان -رضي الله عنه-ويلی:" چې مړ شم بيا راژوندی شم بيا مړ شم بيا راژوندی شم بيا مړ شم بيا راژوندی شم دا ماته ډيره اسانه ده له دی نه چې دمسلمان عورت ووينم يا هغه زما عورت ووينی.

الزهد لأحمد (١٩٢).

- حاتم -رَحِمَهُ اللهُ- وايي:

شهوت دری ډوله دی:

- دخوراک شهوت.
- دخبرو شهوت.
- د د نظر او ليدنی شهوت.

خوراک په ډاډ ،ژبه په رښتيا، او نظر په عبرت اخستنی کنترول کړه.

شعب الإيمان للبيهقي (٥/٥٧١٢).

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له وكيع -رَحِمَهُ اللهُ- روايت دى وايي:

مونږ له سفيان الثوري سره د اختر په ورځ ووتلو نو وويل: لومړى هغه څه چې مونږ به پرى نن پيل كو د خپلو نظرونو ساتنه ده.

الورع لابن أبي الدنيا (٦٦).

- أبي حكيم وايي:

حسان بن أبي سنان د اختر په ورځ ووتلو كله چې كور ته راستون شو ښځى ورته وويل: څومره ښائسته ښځې دى نن وليدى؟ كله چې يې ترى پوښتنه زياته كړه هغه وويل: تباه شى ما له خپلى غتى گوتى پرته بل څه ته نه دى كتلى تردى چې تاته راستون شوم.

الورع لابن أبي الدنيا (٦٨).

- علاء بن زياد وايي:

خپل نظر د ښځى په څړوكى پسى مه پسى كوه ځكه نظر په زړه كې شهوت پيدا كوى.

الزهد لأحمد (٣١١).

- إبراهيم بن أدهم ويلې دى:

باطل ته ډير كتل زړه نه د حق پيژندل ختموى.

حلية الأولياء (٢/٨).

(c) ketabton.com: The Digital Library



- قال ابن القيم -رحمه الله-:

د نظر په ساتنه صبر ډير اسان دی په هغه درد باندی د صبر نه چې له نظره پيدا كيږی.

الجواب الكافي (١٥٣).

- ابن القيم -رحمه الله- وايې:

د نظر له افت څخه دادی : چې افسوس، اسويلې او درد په ميراث كې پريږدی يو كس به وينې چې نه بيا په هغه كار برلاسه وي او نه تری صبر كولای شی.

الجواب الكافي (١٥٣).

- مجاهد -رحمه الله- وايې:

له حرامو څخه نظر ساتل د الله جل جلاله مينه په ميراث كې پريږدی.

فتاوی ابن تيمية (١٥/٣٩٤).

**********

د تيروتنی اصول:

إمام ابن القيم رحمه الله ويلې :

دخطايې او تيروتنی دری اصول دي:

- لومړی تكبر او لويې چې ابليس يې په خپل انجام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسو.

- دويم حرص چې ادم عليله السلام يې له جنت څخه راوويست.
- دريم كينه چې انسان يې د خپل ورور په وژنه جرات مند كړ.

څوک چې له ددرى واړو وساتل شو نو له شر څخه په امن شو:

كفر له لويې مينځته راځى،

گناهونه له حرص څخه،

ظلم او زياتى له كينى څخه».

(الفوائد_ ۱/ ۵۸)).

***********

**دبدعاتو مخنيوى**

إمام الأوزاعي رحمه الله وايي:

"كله چې بدعت پيل شى،

او اهل العلم يې انكار ونكړى، نو وروسته بيا سنت وگرځى".

التعديل والتجريح للباجي المالكي (۱/۴۶).

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دغړ لوړول سړیتوب ندی:**

که چېری سړیتوب دغړ په لوړوالی کې وي،

نو سپی به په سړیتوب او نروالي کي د ټولو سردار و.

**********

**له ځانه پیل وکړه!!!**

ددي پر ځای چې دفتوی پر کرسی ناست او پر نورو تور پوری کوی.

خپل ځان داصلاح کوښښ پیل کړه.

*********

**له ځان وروسته گناه مه پریږده**

نیکمرغه هغه دی،

چې له مړینی سره یې گناهونه هم مړه شي.

**********

**د عبادت خوند:**

امام أحمد بن حرب رحمه الله وایې:

"پنځوس کاله می دالله جل جلاله عبادت وکړ،

خو دعبادت خوند می تر هغه احساس نکړ ترڅو چې می لاندي شیان پریښودل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دخلکو خوښی می پریښوده ترڅو وتوانیدم چې حق ووایم.
- دبې لاری خلکو ملګرتوب می پریښود نو دنیکانو له ملګرتیا برخمن شوم.
- د دنیا خوندونه می پریښودل پرځای می داخرت خوندونه وموندل.

سیر أعلام النبلاء (٣٤/١١).

**********

**د نورو پرده ساتل**

که غواړی چې دالله جل جلاله لوری په پرده کې پاتی شي،
نو هغه دهیڅ یو بنده بې پرده ګي مه کوه.

**********

**په عمل کې د سنتو پیروی**

إمام ابن القیم رحمه الله وایې:
داخلاص او رسول صلی الله علیه وسلم له پیروی پرته عمل داسی دي،
لکه مسافر چې خپل پنډوکی(پیتی) کې شګې بارکړی وي،
چې دپنډوکی له دروندوالی پرته ورته بله کومه ګټه نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفوائد( ٤٩).

**********

**د گناهونو ناوړه پایله:**

څومره خلک دی چې په غاړه کې یې دگناهونو زنځیر په اچولو سره، شیطان د اور لوری ته راکشکوي:

ابن الجوزی رحمه الله وايې:

گناهونه دگناهنگار په غاړه کې دزنځیر په څیر وي چې پرته له استغفار او توبې نه لیري کیږي.

**********

**صبر**

دصبر په اموخت سره،

دژوند نیمی ستونزې راکمیږي.

**********

**تل عادله اوسه:**

شیخ الإسلام ابن تیمیة رحمه الله وایې :

په ټولو واجب دي،

چې په هر حال کې، له هرچا سره عادل واوسی.،

ظلم په مطلق ډول حرام دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيڅ وخت په هيڅ صورت جواز نلري.
منهاج السنة( ٥/١٢٦).
*********

**د ژبې کنټرولول**

مالک بن دينار رحمه الله وايي:
سلفو به ددرې خبرو سپارښتنه کوله:

- دژبې په کنټرول.
- داستغفار په زياتوالى.
- او په ځانلوالى.

صفوة الصفوة (٢/١٦٤).
*********

**د استغفار فضليت:**

شيخ الإسلام ابن تيمية (رحمه الله) وايي :
استغفار(له ربه ښښنه غوښتل)له ټولو ستره نيکى ده، مجال يې پراخه دي ،
څوک چې په وينا، عمل، او رزق کې دکمى او زړه دتقلب احساس کوي،
نو استغفار ته دى مخه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجموع الفتاوى: (١١/٦٩٨).

**********

## د ځان اهمال دټولنى اهمال دي

ابن باديس وايې:

" هغه څوک بل چاته گټه او فايده نشى رسولاى چى دځان په اړه بې پروا وي،

په عقلى، روحى او بدنى لحاظ ځان ته پاملرنه ددى لامل كيږى چې انسان دى دنورو په اړه هم خيرخوا واوسي".

**********

د زړونو ثبات:

امام أحمد بن حنبل- رحمه الله- ته دفتنى پر وخت وويل شو:

ايا نه گورې څرنگه باطل پر حق بر لاسي شو؟

هغه ځواب ورکړ:"هيڅکله داسى نده، تر څو چې زړونه ثابت وي نو تر هغى به حق غالب وي"

ربه ته مو پر حق باندى زړونه ثابت كړي.

*********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له نورو سره ښګېره:**

داسمان دلاندې او دځمکی پر سر په هرځای کې له هر چا سره ښیګیړه او نیکی وکړه،ځکه ته نه پوهیږی چی کله او چیرته به یې بدله مومی؟!!!

**********

**د نیکانو بدی بیانول:**

دانسان لپاره داشر پوره دی چې نیک عمله او صالحه نوی،
خو د نیکانو په اړه بد وايې!!!

**********

**د مرګ په اړه د خلکو یقین:**

عمر بن عبد العزیز (رحمه الله) وایې:
ما داسی یقین ندی لیدلی چې د شک په څیر وي، پرته د مرګ په اړه دخلکو د یقین نه، لدی امله مرګ ته تیاری نه نیسي.

*********

**له وینا سره بائد کړنه مل وی:**

وینا دښه کولو سره دی عمل هم ښه کړه،
تر څو ښه وینا او ښه عمل سره یو ځای شي.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دینی پوهه فتنو څخه د خلاصی لامل گرځی:**

مقبل الواداعی رحمه الله وایې:

مونږ دفتنو په زمانه کې اوسو،

واجب ده چې دالله په دین کې پوهه تر لاسه کړو،

تر څو وکولای شو په پوهی او بصیرت سره له فتنو لیری پاتی شو.

قمع المعاندين (٦١).

**********

**امر بالمعروف:**

دهری نیکې پیل له ځانه وکړه،

ترڅو نورو د رابللو پروخت دی وینا مؤثره وي.

***********

**نیك عمل ژوندانه د بدلون لامل گرځي:**

ابن القیم رحمه الله وایې:

که چیرته انسان خپله گناه په نیکی بدله کړي،

رب العزت به ورته ذلت په عزت، بدبختی او سزا په نیکمرغی او هوساینه بدل کړي.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زړه دنرموالی اودرملنی دوه ستر لاملونه**

- دقران كريم تلاوت او او په لوستنه كې سوچ فكر.
- دالله جل جلاله ذكر او يادونه.

*********

**كرسمس لمانځل**

- دكرسمس لمانځلو دليل يې دكال پيل وي !!
- دمولد لمانځلو دليل يې درسول صلى الله عليه وسلم سره مينه وي!!
- د(مينى ورځ) لمانځلو دليل يې دمينى زياتوالى وي!!
- د مور ورځ لمانځلو دليل يې دمور سره نيكى وي!!

او همداسى نور...

- خو كله چې ورته مخي ته درسول صلى الله عليه وسلم سنت تير شى نو دپريښودو لامل يې سنتوالى ښايى وايې فرض خو ندى!!!!

الله جل جلاله فرمايې:
((فَمَالِ هَٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا))

*********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د چغلی پایلې**

**چا یو نیک سړی ته چغلی پیل کړه هغه ورته وویل:**

**دری جنایتونه دی ترسره کړل:**

- **زما او زما د ورور ترمنځ دی اړیکی پریکړی.**
- **زما خالی زړه دمصروف کړ.**
- **زما په زړه کې دی خپل احترام کم کړ.**

**************

**قناعت او رضایت:**

**چاچې دنیا کې په لږه رضایت او قناعت وکړ،**

**ټولی ستونزي به ورته اسانه شي.**

*************

**ډیره دردونکی ده ځوانانو**

**یوسپین بږیری وویل:**

**ننی ځوانان اوسپنې او درانده شیان پورته کولی شي،**

**خودسحر په اذن سره نشی کولای چې له ځانه برستن پورته کړي.**

**************

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستونزمنه ده**

دا لازمه نده چې دځان لپاره په هر زړه کې ځای پیدا کړي،
ځکه دخلکو زړونو تنگ شوي،
بلکې یواځې داپوره ده چې ددوی په نفسونو کې دخپل احترام دراټوکولو کوښښ وکړي.

*********

**په هر حال کې د الله جل جلاله شکر ویستل پکار دی**

یونانی حکیم وایې:
مابه ژړل کله چې به خپه ابله گرځیدم،
خو هغه وخت می له ژړا بس کړل،کله چې می داسی څوک ولید چې خپو دنشتون لامله په څنگونو گرځیده.

**********

**فرق**

دهغه چا ترمنځ چې دخپلو مینوالو دشمیر دزیاتولو لپاره لیکنې کوي،اوهغه چاچې داصلاح اونیکیو دخپرولو په خاطر لیکنې کوي دادي:

- لومړی: دخلکو دغوښتونو بندیوان دي.
- دوهم: پاچا دی که څه هم خلک یې نه پیژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*********

**خپلو نیمګړتیاوو ته پاملرنه:**

عکرمة رحمه الله وایي:

"ماله هغه چا کم عقل ندی لیدلی چې دځان بدې پیژنی،خو بیا هم له خلکو غواړی چې په علم او نیکی یې موصوف کړي".

تنبیه المغترین ( ص: ۳۳).

**********

**د ښو اخلاقو ارزښت:**

ابن سعدي رحمه الله وایي:

"دنفس په خوښی کې دښو اخلاقو خاص ارزښت دي، یواځی هغه خلک یي پیژنی چې تجربه کړی یي وي".

انتصارالحق : صـ (٤٦) .

**********

**د خوښوی او کرکی لامل:**

څوک چې دی دکومو خویونو لامله خوښوی، دهغی دنشتون لامله درڅخه کرکه هم کوي.

***********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستونزي او مشکلات:**

شیخ الاسلام ابن تیمیة(رحمه الله) وایي:

"ناوړه پیښې، تکالیف اومشکلات دیخنی اوګرمی په څیر دی، چې تری خلاصی نشته، باید انسان یي په راتللو غوسه، غمژن او سوچی نشی".

مدارج_السالکین.

**********

**رسنیو سره په تعامل کې احتیاط**

دناسمه خوړو په خوراک سره صحت خرابیږی،

خو دبې لاری اوفاسده کتاب په لوستولو سره عقل فاسدیږي.

(ځیرکه اوسی چې رسنی مو په عقل لوبې ونکړي).

**********

**قراني پیغام:**

﴿ وَاسْتَبَقَا الْبَابَ ...﴾ سورة یوسف : ۲۵]

دواړو کوښښ کو چې یوله بله مخکی دوازی ته ورسی،

((کله تګلاره یوه وي خو موخې او نیتونه سره جلا وي))

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دوستی انتخاب:**

امام شافعي-رحمه الله- وايي:

دانسان لپاره پکار ده چې ددوستی لپاره ريښتني او وفادره خلک وټاکی، لکه څرنگه چې دامانت ساتنی لپاره امانت داره او باوري خلک ټاکی.

[الانتقاء لابن عبد البر١٥٧].

**********

**عذر وړاندې کول:**

که يو چاته دعذر وړاندی کولو موخه يواځی غرور او ځان خوښی له مينځه وړل وي،نو په هر عاقل واجب ده چې له هره تيروتنی او خطا سره عذر مل کړي.

روضة العقلاء(١٨٦).

**********

**د سرلوړی او مشری لامل:**

له ابو سفيان څخه وپوښتل شو:

دڅه لامله سرلوړی او دقوم مشر شوي؟

هغه وويل:له چاسره می بحث او جگړه نده کړی مگر داچی دسولی لپاره می لار پريښی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نثر الدر(٣/ ١٦٧).

***********

**د راز ساتنی اهمیت**

عمر بن الخطاب – رضی الله عنه- وایې:

چاچې خپل راز پټ وساته،

اختیار به یې پخپل لاس کې وي،

اوچاچې ځان د نورو تهمت ته وړاندی کړ ، بیا دی هغه څوک نه ملامتوي چې پده بدگمانی کوي.

**********

**د نبوی سنتو راژوندی کول:**

علامه ابن عثیمین- رحمه الله- وایې:

دا څرگنده ده چې دنبوی سنتو په راژوندی کولو دوه ځله انسان له ثوابه برخمن کیږي:

- لومړی په سنت دعمل کولو.
- دوهم سنت دراژوندی کولو.

***********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خوراج او د مسلمانانو وژنه**

أيوب السختياني رحمه الله وايې:" خوارج په نومونو کې سره مختلف دي،خو په توره کې سره متفق دي".

يعنى ډلې او تگلارې يې سره جلا دي خو دمسلمانانو په وژنه سره يوه خوله او يوسلا دي.

الشريعة للآجري( ٥/٢٧٤).

**********

**ناسمه حالات:**

له مرغانو مه پوښتئ چې ولى يي خپل استوگنځايونه پريښودل، بلکى له هغه ظروفو او حالاتو وپوښتئ چې دوى يي کوچ کونى ته اړ کړل.

***********

**نصيحت**

که چيرته ستا د ورځنئ پلان لومړنئ پريکړه دسحر لمانځه ته راويښيدل نوي،

نو دپاتى ورځى پلان دى هيڅ ارزښت نه لري.

(ځکه ته دکاميابئ په پيل کې پاتى راغلى).

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له حق څخه سرغړونه**

شيخ الإسلام ابن تيمية –رحمه الله- وايي

څوک چې حق نه منی،

الله جل جلاله به يې دباطل په منلو امتحان کړي.

**********

**پرته له پوهې په دين کې له خبرو ډډه وکړئ**

شيخ الإسلام ابن تيمية رحمه الله وايې:

چاچې په دين کې بې له علمه او پوهې خبرې وکړي دا دروغجن دی، که څه هم دروغ ويل يې موخه نوي.

**********

**موبايل:**

دی ددعوت منبر کړه، نه دگناهونو هديره.

**********

**غريبې د پيغور سزا:**

ابن سرين- رحمه الله- ته وويل شو: کله چې يې خپله شتمنی له لاسه ورکړه، چې تاون دی زيات وکړ.

هغه ځواب ورکړ:دا هغه گناه وه چې ما يې د څلويښت کالو راهيسی دسزا انتظار ويسته،

بيا ترى دگناه په اړه وپوښتل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وویل: ما یو چاته دناچاری او غریبی پیغور کړي و .

***********

**جعلی دوستانه:**

کوته اوجعلی ملګری دسوری په څیر دی،
کله چی زه په لمر کې یم له ما وړاندی روان وی،او کله چې تورتم ته شم بیا ورک شي.

********

**ورځنی حقیقت:**

مونږ ځینې داسی اشخاص له لاسه ورکو ،
چې مړه نوی مګر په هغوی کې هغه صفات مړی شوی وي چې مونږ به د هغی له امله خوښول.

**********

**یو سپین ږیری راته وویل:**

یو وخت زه او صحت دواړه دمال په لټه کې وو، خونن زه اومال دواړه دصحت په لټه کې یو!

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له حکمت ډکه خبره**

دری ډوله خلک پخپل ژوند کې مه هیروه:

- چاچې درسره په سخت او مشکل وخت کې مرسته وکړه .
- چاچې په سختو او مشکلو حالاتو کې یواځې پریخودی.
- چاچې درته ستونزې او مشکلات پیدا کړل.

***********

**داخلی نیمګړتیا**

عبدالکریم بکار وایې:

دښمنان مو راته دروازی په سختی ټکوي،

خو تر هغی دراننوتلو توان نلری تر څو چې مو ورته له دننه خلاصې کړي نوي.

*********

**ګټور نصیحت**

که غواړی چی په هیڅ کار ښپیمانه نشی، نو هر کار دالله جل جلاله درضا لپاره وکړئ.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د قران کریم سره تعامل:**

**کچیری دهغه کسانو له ډلی څخه نه یې:**

**﴿یتلونه حق تلاوته﴾**

**چې قران کریم په حق او ریښتنی سره لولی،**

**نو لږ تر لږه د هغو له جملی خو شه:**

**﴿اقرؤوا ما تیسر منه﴾**

**هغه ولولی چی تاسو ته اسان وي**

**که اول او دوهم دواړه کارونه مو ونکړای شو نو بیا**

**﴿فاستمعوا له وأنصتوا﴾**

**قران  ته غوږ ونیسی او چوپ شی**

**خو په هیڅ وخت کې له قران سره اړیکه مه شلوئ.**

***************

**د پند خبره:**

**هری کندی ته له غورځیدو څخه قدم ساتل کیږي بی له قبر څخه، ځیرکه  هغه دی چې دغه کندی ته دغورځیدو لپاره تیاری وکړي، ځکه انسان به په ټولو مخکنیو کارونه ښپیمانه وي پرته له هغی چې د الله جل جلاله درضا لپاره یې کړي وي.**

**************

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له نا امیدی ځان ساتل:**

ابن القیم- رحمه الله-وایي:

دخپل حکمت له مخی الله جل جلاله دخپل بنده په وړاندی دروازه نده تړلی، مګر داچې دخپل رحمت له وجی یې ورته دوه دروازی پرانستی دي.

***********

**انسان او مړښت:**

حیوان هعه وخت خطرناک وي کله چې وږی وي، خو انسان بیا هله خطرناک او ضرری شي چې کله په خیټه موړ شي.

**********

**په معاصر وخت کې ستره سپارښتنه:**

ابن حزم - رحمه الله تعالی -وایي:

"په حساسو مسائلو کې چوپتیا ځومره غوره ده ؛ډیر خلک مو ولیدل چې خپلو ژبو هلاک کړل خو داسی څوک مو تر اوسه ندی لیدلی چې چوپتیا ورته زیان رسولی وي ".

الرسائل :(۱/٤۰۲) .

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بدو ځواب باید بد نوی:**

**یو کس یحیی بن معین ته کنځل وکړل،**

**خو هغه ځواب ورنکړ، چا ورته وویل چې ویل دی ځواب ورنکړ،**

**هغه وویل ما دا علم د څه لپاره زده کړي.**

*************

**د دوستانو غداری:**

**ځینې خلکو ماته داسی تجربه پریخوده،**

**چې دهغه نه په زده کړه زه کولای شم چې څنگه دهغوی په څیر له نورو خلکو په راتلونکی کې ځان وساتم.**

*************

**د نوی ورځ پیل:**

**کله چې دی نوی ورځ پیل کړه،**

**معنی دا چې الله جل جلاله دی په عمر کې یوه ورځ ددی لپاره ورزیاته کړه، چې ترڅو توبه وباسی او خپل نیک اعمال لا زیات کړي.**

**باید دغه درکړل شوی فرصت بې ځایه له لاسه ورنکړئ.**

*************

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د زړه شتمنی او دمال ډیریدل:**

شیخ عبد الرحمن السعدی- رحمه الله- وایې:

په ریښتنې شتمنی دزړه ده نه دمال ډیریدل،

څومره شتمن او مالداره دي چې زړونه یې غریب او حرصناک وي.

**********

**بیوزلي:**

حاتم الأصم-رحمه الله- وایې:

له بیوزلی او غربت څخه مه ویریږه، ځکه ته الله جل جلاله له اور څخه ویرولی یې ، نه له غربت او ناچاری څخه.

**********

**د الفاظو په سمه توګه استمعال**

خبرې او ویناوې کیلیانو ته ورته دي،

که په سمه توګه یې استعمال وکړي، نو د ډیرو خلاصی خولې به پری بندی کړي،او د ډیرو بند زړونو به پری خلاص کړي.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د زړونو ترلاسه كول:**

كه غواړی چې دنورو په زړونو كې احترام پيدا كړي،

نو دخپلې وينا او اسلوب معيار لوړ كړئ نه داچی په خلكو غږ لوړوي.

ځكه باران گلونه رازرغونوی نه برښنا.

**********

**اخلاق**

اخلاق د دوكان په څير دي،

چې قفل پې ژبه ده ،كله چې قفل خلاص شي نو معلومه شي چې په دوكان كي سره زر دي او كه سكاره.

**********

**نيک عمله دښمن درته له بد ملگری غوره دي:**

سفيان بن عيينة-رحمه الله- وايې:

ځكه نيک دښمن دی خپل ايمان دی له دی منع كوی چې تاته زيان او تكليف دوررسوي،

خو بد ملگرى تاته دزيان رسيدو په اړه لا پروا وي.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تل پاتی نیکی او گناه:**

په خواله رسنیو کې دخپلو مطالبو خپرولو سره محتاط اوسئ:
که د مرگ وروسته،
تل پاتی نیکې(صدقة جارية) نشي پريخوداى، بايد کوښښ وکړئ
چې تل پاتی گناهونه (ذنوب جارية) هم پري نږدئ،
**********

**بد يې مه گڼه:**

هغه څه بد مه گڼه چې الله جل جلاله ستا لپاره غوره کړي،
کله د الله جل جلاله په غوروالی او انتخاب کې لوی مصلحت
پروت وي،
چې ته پری نه پوهيږي.
**********

**دپند خبره**

له يوی ونی څخه يو مليون د اور بلونی کړکې جوړيږي، خو دغه
يو کړکی کولای شي مليون ونې وسوځوي.
لدی امله په خپل ژوند کې يو منفي کړنه مه پريږده چې ستا مليون
مثبتې کړني له منځه يوسي.
***********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګناهنګار ته ګناه څخه د خلاصي دعا**

ابن مسعود-رضي الله عنه- وايې:

کله چې تاسو يو ګناهنګار د ګناه په کولو ووينې، دالله له لورى ورته بد دعايې مه غواړئ،او مه ورته کنځل کوئ، بلکې دعا ورته وکړي چې الله جل جلاله ورته له دغى ګناه څخه خلاصي ورکړي.

التوبة لابن أبي الدنيا(مخ ٩٩).

**********

**د درد احساس**

هغه څوک چې درد او تکليف پيژني،

په سختيو او مصبتونو کې به يې دنورو ترڅنګ ولاړ ويني.

*********

**ريښتيا او دروغ**

پدى خاطر دروغ مه وايه چې خلک راجذب کړي او تا خوښ کړي، او له ريښتياو مه ويريږه که څه هم خلک له تا ليري کوي، ځکه دخپل ځان او نورو سره ريښتنولي يو ستر هدف دي

**********

**عمل:**

مالک بن دينار -رحمه الله- وايې: "عمل د نه قبليدو ويره سخته ده دعمل له کولو نه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



**********

**بد گمانی:**

په ټولنه کې یوه بشری کړي داسي ده،چې خلکو ته یوائې دنیمگړتیا په نظر گوري،

خو خپلو ځانونوته بیا دکمال په نظر گوري.

**********

**منفی کړنه:**

زمونږ ټولنه دسترگو پر ځای په غوږونو لیدل کوي.

*********

**ریښتنې نیمگړتیا:**

دا عیب ندی چې یو څوک دی له تا څخه غوره وي،

بلکی عیب دا دی چې ته دهغه سمعت (حیثیت )دنورو په وړاندی خرابوی،

دا ځکه چې ته نشی کولای د هغه په څیر ځان جوړ کړي.

**********

**چغلی:**

که غواړي وپیژني چې خلک ستا په غیاب کې ستاپه اړه څه وایې،

نو هغوي ته غوږشه...!

چې ستا په حضور کې د نورو په هکله څرنگه خبري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**********

**هدف باید واضح وي:**

ځکه دکامیابي په وړاندي ستر خنډ دموخو ناڅرګندتیا ده.

**********

**په نیکو کارونو کې تیزي:**

کله چې د یو چا پر مخ دخیر او نیکي دروازه پرانستل شي،

نو باید د هغي په لوردی تیزي وکړي،

ځکه دا نه پوهیږي چې کله یې پر وړاندي تړل کیږي.

کتاب الزهد للإمام أحمد-رحمه الله-

**********

**په ګناه استمرار:**

په وړو ګناهونو همیشوالي انسان دلویو او کبیره ګناهونو کولو ته اړ باسي

**********

**له ګناه ځان ساتل:**

ګناهونه سپک مه ګڼه،

ځکه کله دوړي ګناه پیل هم ژوند د ختمیدو لامل وي.

*********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د رب لويي:**

دگناه كموالي او وړكوالي ته مه گوره،
بلكې دهغه رب لويي او عظمت ته وگوره چې ته يې نافرماني كوي.

**********

**دگناه زيان:**

ابن القيم-رحمه الله-وايي:
كله چې گناه په پټه ترسره شي نو زيان يواځې گناهگار ته وي،
خو كله چې په ښكاره وي نو بيا يې زيان دټولني ټولو وگړو ته رسي.

**********

**چاپلوسی:**

ځيني اشخاص تاته مخلص نوی،
يواځې خپلو گټو دی ته اړ كړي وي چې تاته اخلاص وښايي،
كله چې يې پرتا پوری تړلي گټې تغير شي، نو اخلاص يې هم ورسره تغير وكړي.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دنیا ازموینه:**

مونږ تل په دنیا کې په ازموینه کې یو،

هره شیبه کیدای شي چې له مونږ څخه د امتحان پارچه واخیستل شي او هغه ځانګړې وخت پای ته ورسي چې دالله جل جلاله له لوری ټاکل شوي،

نو....

خپلی پانی ته پاملرنه وکړه او د بل پانی ته له کتو تیر شه.

*********

**د خلکو تعامل:**

په ژوند کې به له دوه ډولو خلکو سره مخامخ کیږی:

- لومړي هغه دي چې ستا دښه سړیتوب او خدمت له وجی ستا قدر او احترام کوي.
- دوهم هغه چې ستا ښه سړیتوب او خدمت یواځی دځان په ګټه استعمالوي.

*********

**د نورو په اړه فکر:**

خپله خبره په خپل ځان تجربه کړه،

مخکي له دینه چې دنورو په نفسونو یې ورټک وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**********

**دهغه چا په څیر شه!**

چې په لیدو دي خلک ووایې،

(لاتر اوسه په نړی کې ښیګړه شتون لري).

**********

**دنیکی بدله:**

له سکندر پاچا څخه وپوښتل شو:

په پاچایې کې دي کومه یوه لاسته راوړنه ده چې ته پری ډیر خوښ یې؟

هغه وویل: پدی توانیدل تر څو هغه چاته غوره بدله ورکړم چې له ماسره یې نیکی او احسان کړي.

**********

**د خلکو رضایت:**

دکامیابي راز نه پیژنم،

خو دناکامي راز دټولو خلکو درضایت هڅه ده.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د غم او کړاو لامل:**

ابن القيم رحمه الله وايي:

کړاوونه،غمونه،اوسوچونه د دو لارو مینځته راځي:

- دمال حرص او له دنيا سره مينه.
- په عبادت او نيکيو کې سستوالي.

((عدة الصابرين : ٢٥٦))٠

**********

**د الله جل جلاله ذکر:**

نيکمرغی، ډاډ، سکون، اونفسی راحت يواځي دالله جل جلاله په ذکر(يادونه) کې دي.

**********

**د بدبختيو لامل:**

دټولو بدبختيو لامل دالله جل جلاله له ذکر(ياد)څخه مخ اړونه ده.

*********

**مخ بدلونه:**

خلک هره ورځ خپل مخونه بدلوي، نو خپل ارزښت دخلکو په مخونوکې مه گوره!.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له ژوند نه زده کړه!**

زیاتره ستونزي او مشکلات له دو لاملو مینځته راځي:

- بدګماني.
- ضد او عناد.

***********

**نبوي رڼا:**

ابن تیمیة-رحمه الله- وایې:

کله چې هم خلکو خپله اړیکه له نبوی علم سره شلولې،

دفتنو په تورتمیو کې ښکیل شوي،

بدعات او ناروا کړنې مینځته راغلې، او دخلکو ترمنځ شر پیدا شوي.

**********

**ښه او بد:**

عقلمند یواځې هغه ندي چې دښو او بدو توپیر وکړي،

بلکی عقلمند هغه دي چې دښو پیروي وکړي اوله بدو ځان وساتي.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د نیکمرغۍ بشپړتیا:**

دانسان نیکمرغي په دري شیانو بشپړیږي:

- دگناه څخه وروسته توبه ویستل.
- دنعمت شکریه اداء کول.
- په سختی اوتنگستیا صبر کول.

**********

**بریالۍ دوستي:**

بریالۍ دوستي دسترگي او لاس داړیکې په شان ده،
کله چې لاس درمند شي سترگه اوښکه تویوي،او کله چې سترگه اوښکه توي کړي نو لاس یې پاکوي.

**********

**لویه لاسته راوړنه:**

له یو حکیم څخه وپوښتل شول:
په ژوند کې دانسان تر ټولو لویه لاسته راوړنه کومه یوه ده؟
هغه په ځواب کې وویل:
په ژوند کې دانسان ترټولوستره لاسته راوړنه دا ده چې په غیاب کې یې خلک په ښو(نیکه)یاد کړي.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اړينو خلكو سره مرسته:**

ابن القيم -رحمه الله-وايي:

خلكو دستونزو حلولو او هغوي داړتياو پوره كولو خوند هغه ځوک پيژني چې تجربه كړي يې وي.

*********

**اخلاقي ناروغي:**

ناروغي يوائې په بدن پوري نده تړلی،

بلكي اخلاقي ناروغي هم شته. كله چې دبداخلاقه انسان وليد نو دالله جل جلاله له درباره ورته روغتيا وغواړه،

او دالله ډيره زياته شكريه اداء كړه چې له دغه مرضه يې ژغورلی يې.

***********

**رب د نافرمانی لامل:**

كه چيرته انسان دخپل رب لوی او عظمت پيژندلي، نو هېڅكله به يې هغه دنافرماني جرأت نوی كړي.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژوند:**

دژوندانه په نظام کې:

- نه بشپړه خوشحالي شته.
- او نه تل پاتې غم.

**********

**چوپتیا:**

یو حکیم وایې:

انسان خبرو د زده کړی لپاره دوه کاله ته اړتیا لري، خو د چوپتیا دزده کړی لپاره پنځسوکلونو ته اړتیا لري.

***********

**ځینې خلک:**

ځینې خلک دمصنوعي ونو په څیر وي،

چې هرڅومره یې دښیګڼو په اوبو یې خړوب کړي خو بیا هم میوه نه نیسي.

*********

**د خلکو کړنې:**

ویناوې کله دروغجني وي خو کړنې تل حقائق وایي،

له ځینو حالاتو ډیره مننه ، چې ماته یې دبشریت ریښتونې څیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښرگنده کړه.

**********

**نورو د مشاعرو خیال ساتل:**

د خلکو له احساساتو سره لوبې مه کوه

شاید ته پدغه لوبه کې بریالي شي،

خو خپل خواو شاه دوستان به دژوند په اوږدو کې له لاسه ورکړي.

*********

**سپی او غرڅنۍ:**

سپی له غرڅنۍ څخه وپوښتل ته ولی په ځغاسته کې همیشه له ماڅخه مخکی یي؟

هغي ورته په ځواب کې وویل:څه دخپل ځان لپاره منډه وهم او ته یي دخپل بادر لپاره!.

که دحق لپاره له ځان څخه غرڅنۍ نشي جوړولي نو دباطل لپاره له ځان څخه د پردیو سپی مه جوړوه.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دري شيان:**

په دري شيانو کې گټه نشته:

- دولت چې دبخيل په لاس کې وي.
- توره چې دبوزدل په لاس کې وي.
- قلم چې دمنافق په لاس کې وي.

**********

**راتلونکي وخت:**

علي – رضي الله عنه- وايې:

په تاسو داسي وخت راتلونکي دي چې:

- مشر به مو گناهنگار وي،
- عالم به مو منافق وی،
- کشر به مو دمشر احترام نکوي،
- مالدار به مو د غريب مرسته نکوي.

**********

**دکينه گر انسان نښې:**

لقمان حکيم وايې:

د کينه کونکی دری نښې دی:

- کله چې يي ملگری پناه وي غيبت يي کوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چې حاضر شي چاپلوسي یي کوي،
- په تکلیف او مصبت یي خوشحالیږي.

**********

**یو حکیم وایې:**

**دخلکو سره تعامل دلیدلو اخلاقو په بنیاد وکړه،**

**نه دهغو خبرو په بنیاد چې دهغوي په اړه یي له خلکو اوری،**

**ځکه ډیر ځله اوریدلي خبرې دهغوي ریښتونې تمثیل نکوي.**

*********

**انسانیت:**

**انسان چې کله انسانیت هیر کړي، بیا له حیوانه هم بدتر شي.**

**********

**نیك عمله دوست:**

ابن القیم-رحمه الله- وایې:

نیك عمله دوست درته له خپله ځانه غوره دی، ځکه خپل نفس درته په بدیو امر کوي،

او نیک عمله ملگری درته تل په نیکیو امر کوي.

***********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دنورو ناوړه کړنې باید ستا د بد خوی لامل نشی**

کله چې له یو هیواده ځنګل جوړشي ، نو دا مهمه نده چې ته دی هم د هغوی په څېرحیوان شي.

**********

**دخپل ځان احترام:**

د خپل ځان احترام به دی کله دیته اړ کړي، ترڅو پخپل ژوند کې له ډیرو خلکو سره اړیکې وشلوي.

*********

**کله په ناخبری کې راحت وی**

ټول هغه څه چې مونږ یې پیژنو زړه نه په ارامه کوي،،کله کله دزړه سکون د ځینې کارونو په نه پیژندلو کې وي!

**********

**له تا سره مینه لري:**

ځینې خلک ستا خطاګانې او تیروتنې پلټي،
ترڅو له تا رخصت شي.
او ځینې نور بیا ستا له تیروتنو سترګې پټوي،ځکه له تا سره مینه لري!

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په خلکو کې لوړ او عالې هغه دی**

((چې دخلکو په اړه کمې خبرې کوي))

او پاک نفسه هغه دی

((چې په خلکو نیک گمان کوي))

او تقواداره هغه دی

((چې دخلکو په خدمت او مرسته کې هلې ځلې کوي))

*********

**وفادری او انسان:**

سپې ته دری ورځې ډوډې ورکړه،

تر دری کالو پورې به د یاد ساتي.

انسان ته دری کاله خوراک ورکړه، په دری ورځو کې به د هیر کړي.

*********

**دخپلوانو ناوړه سلوک**

د خپلوانو دغدر او دهوکو څخه مه حیرانیږئ،

ځکه له تاسو مخکې، یوسف علیه السلام سره خپلو وروڼو دهوکه وکړه،

سره لدی چې هغه یو پیغمبر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***********

**د لمونځ اهتمام:**

سعيد بن المسيب –رحمه الله- وايي:

د ديرشو کلونو راهيسي مؤذن اذان ندي کړي مگر داچې څه په جومات کې موجود يم.

**********

**له ځينو خلکو مرسته مه غواړه:**

دځلورو کسانو نه د هيڅ شئ په اړه مرسته مه غواړه سره لدی چې دمشکل حل دي دهغه په لاس کې وي:

- کينه گر.
- منافق.
- ذليل.
- بخيل.

*********

**خيانت:**

په وړاندي دی دړاونکې زمرې غوره دي له دينه چې ترشاه دی خاينه گيدړه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فتوی ورکول:**

دهغه چا کار دي چې اهلیت یې ولري:

امام مالک - رحمه الله- وایې:

ما تر هغي فتوی نده ورکړي چې ترڅو زما لپاره اویا کسانو هغي د وړتیا او اهلیت گواهي نده ورکړي.

**********

**پټه کینه**

که چیري خلک دخپل ځان په اړه دنورو د زړونو له ارادو خبر وي، نو له یو بل سره به توری په لاس مخامخ شوي وي.

**********

**دعلم اهمیت:**

امام أحمد بن حنبل – رحمه الله- وایې:

انسان علم ته له خوراک او څښاک زیاته اړتیا لري،

ځکه خوړو او اوبو ته په ورځ کي یو ځل یا دوه ځله ضرورت پیداکیږي،

خوعلم ته دخلکو اړتیا هغوي دساه اخستلو په شمیر ده.

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هوساینه:**

أبوالدرداء-رضي الله عنه- وایې:

دهوساینې او اسانۍ په وخت کې الله جل جلاله راوبله شاید چې دمشکل او سختۍ وخت کې دعا قبوله کړي.

**********

**په علم عمل:**

أبوالدرداء-رضي الله عنه- وایې:

ترهغې عالِم نه شي جوړیدای ترڅو چې متعلم ونه اوسي، او ترهغې متعلم نه شي کیدای ترڅو چې په زدکړي علم عمل ونه کړي.

څه له دی ډیر زیات ویریږم چې کله دخپل رب په وړاندی دحساب لپاره ودریږم اوماته وویل شي:"چې تاپخپل زدکړي علم څه عمل کړي؟.

**********

**د اسلامی امت راتلونکی:**

شیخ ابن باز-رحمه الله- وایې:

دا امت به ناروغه وي خو مري نه، په غفلت کي به وي خو ویده کیږي نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه نا اميده كيږي...
خپله سرلوړي او عزت به هله ووينې چې كله د خپل رب لور ته ستانه شوي،
ځانونه مو اصلاح كړه،او دخپلو ورونو مرسته مو وكړه.
*********

يحيى بن أبي كثير-رحمه الله- وايي:
علم په جسمي راحت نه ترلاسه كيږي.
**********

**وصلي الله وسلم وبارك على عبد الله ورسوله محمد، وعلى آله وأصحابه أجمعين**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**